پشه يي ژبه د افغانستان د وروښو قومونو او مليتونو ډېرو پخوانيو ژبو څخه ده، زموږ د هېواد په ختيزو ولايتونو او د هغه په شاوخوا کې خلك پرې خبرې کوي. د ځينو واقعيتونو او عيني شواهدو څخه راپه ډاګه کېږي چې پخوا دغه ژبه په دغه ځای کې له دېنه په زياته پيمانه موجوده او د سيمې د واکمنو او ادبي ژبو څخه وه. که د هخامنشيانو د زماني د بغستان د ډبرليك (نه اريکه آهم، نه دروجنه آهم، زوره کره آهم) درې مسرو ته وګورو راته جوته کېږي چې دا د يوه پخوانی اريايي ژبې بېلګه ده چې تراوسه پورې زموږ په پشه يي ژبه کې همدغه کليمې په همدې توګه کارول کېږي او شته دی يا په بل عبارت دا د پشه يي شعر پخوانۍ نمونه ده.

په همدې ډول له دې نه پرته ليکوالو او څېړونکو څرګنده کړې ده چې يو ډېر لرغونی او پخوانی کتاب چې د (ملندا پېنه) په نامه دی او په سيلون کې پيداشوی دی، په پشايي ژبه ليکل شوی او ډېر پخوانيو زمانو کې زموږ له همدې هېواد څخه هلته وړل شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې لپاره چې خبره اوږده نه شي اصلي مطلب ته راځم او هغه د ((اوړاپرنګې)) یانې پرېږده والوزي په هکله ده چې ښاغلي محمد انور شمسه خیلي ورور ماته وړاندې کړ او ویې ویل:

ددې لپاره چې د سرحدونو او قبایلو د وزارت د نشراتو او فرهنګي چارو ریاست په پام کې لري چې دا چاپ کړي، تاسو ددې په هکله خپل نظر ولیکئ ښه به شي. خدای(ج) شاهد دی ما چې دغه خبره واورېده او دا اثر مې ولید چې نوم یې دی اوړاپرنګې (پرېږده والوزي) باور وکړئ ماته دومره احساس او خوښي راپه برخه شوه، لکه چې وزرونه مې کړې وي او الوتی اوسم لومړی خو زه مخکې له مخکې ددغه محترم وزارت فرهنګپالو مسولینو څخه ددغه نېك اقدام له کبله مننه کوم او بیا ددغه ادبي اثر په هکله چې د پښه یې شعر په ګلبڼ کې یو نوی ګل دی دده د خوشبویي څخه مې دومره خوند واخیست چې فکر مې تازه او احساس مې ژوندی شو.

ځکه چې ددغه پښه یې اثر مینځته راوړونکی او لیکوال او شاعر محمد حسن حسام ورور دغه هېوادني، ټولنیز، علمي او حماسي شعرونه دل وستونکي پر وړاندې د یو روښان او ځلاند راتلونکي خواته د حسد او بدبینۍ دېوالونه ړنګوي او هغې وروری، پرمختګ او د هېواد بیا رغونې ته بولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرڅوك شاعر کېدی نه شي، په رښتیا هم تر کومه اندازې پورې چې زړه د انسان په وجود کې قدر او عزت لري په همدې ډول یو لیکوال او شاعر هم په ټولنه کې همدومره ارزښت لري. د ښاعر شعر د یوه ملت مړه او ویده احساسات او جذبې راویښوي، همدا شعر او ادب دی چې د خلکو ژبه او کلتور ساتي.

ښاغلی محمد حسن حسام ورور هم له همداسې شاعرانو څخه دی او همداسې شعرونه لري.

زه له یوې خوا محترم حسام صاحب ته ددغه اثر د منځته راوړو او چاپېدو له کبله مبارکي وایم او غواړم چې دا محترم نور هم د خپل قلم په کار اچولو سره لا نور او ډېر خپلو خلکو، ژبې او ادب ته خدمت وکړي او له بلې خوا خپل ځان او ټولو پښه یي خلکو ته هم چې زموږ د هېواد د مطبوعاتو په اسمان کې د یوه بل ژبي الوتونکی د الوتنې له کبله دغه زموږه فضا لا ښکلې شوه.

والسلام

محمد زمان کلمانی

۱۳۸۱/۳/۱

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



پشه یی جب افغانستنس لیوني ملیتېلا او قومېلانیا اي بودنن هونی جبه او دائی شي ګه ابت به اماوطنس سورالك تلنې، ولایتیلایه کوچه او تیس کنه سنیی خلك سریی اغت کاکن ایلای واقعیتېلا او عینی شواهده اودای تاړابګا که پوړا یوجب یه ټونك میدې بوپیمانا یدی موجود آچ او منطقاس حاکم او ادبی جبه او دای آچ.

اګه امه هخامنشینه دنای بغستان واړلکنه او دای دنه اریکه اهم، نه دروجنه اهم، نه زوره کره اهم، لمبه مسرایه انتینې پړی کمان یو تاړابګا که یواي دنه هونی آریایی جبېس نمونینی شی ګه ابت جابه اما پشه یی جبی کوچه میمه کلیما میمه رکمیدی یتین ګوریا او موجود شن یاوری عبارتېدی یوتانکې پشه یی شعرس ونه هونانمونیی شی.

امزات میدې اوړ تاللکالې او واړه کالې تاړاکیو یی شې ګه اي بو پورانا او دنه هوناکتاب که (ملنداپینه) نامېدی سی اوسیلون کوچه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیدابواسی، پشایې جبیدې لکن بوا اوبو دنه زمانا یه کوچه میمه اما وطنی لهه جایېکه نېواسی.

امې خاطری ګه اغت لګی نه بې اصلی مطلب آنتی ایاګم او (اوړاپرنګی) بابته سې که محترم محمد انور شمسه خیلی لایستم مینه انتې پوړاکیهن او کدهن: امې خاطری ګه سرحدات او قبایل وزارتس نشرات او فرهنګی لهمیلانیا ریاست نظر کوچه داراګه می چاپ او نشر کدن. اګه مې تاییا او یه بارا نظری لکییابیی سې. خدای(ج) شاهد آس مم که یو اغت اریچم او یو اثر لشحچم که نامه سی ((اوړاپرنګی)) باور کی ایلواز احساس او خوشالي مینه انتی پیدابیك که اخولې ډونګی هنویم تن پرانګه انوام تې. اول خو مم پوړادی پوړامه محترم وزارتس فرهنګ بیی بایکالی مسولینه او دای مه نیك اقدامې ګرای نیك کاکم او یان مه ادبی اثر بابته که پشه یی شعرس ګلېناکوچه ای اوپاړا او نونګاپینجا شی ګندهتا او دای ایلوار مزا ګوریکم که فکرم تازا او احسم زندابیکه. خو لګه مه پشه یی اثرس منجه اچکالااو لککالااما وطنس اي بوبا احساس وطن او اولس سره مین لککالااو شاعر محمد حسن حسام لایستن مه وطني، اجتماعي، علمی او حماسی شعر یلا پړکالا پوړا اي لوش او جلککالااکالابل امیدس او ینیك چالا خلکه آنتی بکار پیغام دارا، خلکه منجه نفرت، کینا، حسد او بدسپنیس دیوله دوړګبې او تې لېونګری، پوړاپېنی او وطنس جوپلینی انتی ایړ هر که شاعر

(c) ketabton.com: The Digital Library



بتانه بيا. شتېدی کو اندازا جاکه اړانسان ویړی کوچه قدر او عزت دارا، مندور کمیدی، ای لککا او شاعر به جامعا کوچه ایلوار ارزش دارا، شاعرس شعري ای ملتس لوی او اورچوی احساس او جذبته بویلېي. یومه شعر او ادب سی خلکتا جب او کلتور ستارسی. محترم محمد حسن حسام لایام به مندوشاعر نه اودای آس او مندو شعردارا.

مم اي تلن محترم حسام صاحب آنتی مه اثرس منجه چیك او چاپ بیك خاطرې مبارکي ماکم او ایړیاکم که یو محترم تانکه قلمتاوری به لهمه ویك ګرای لاوری او بوتانك جب، ادب او خلکه انتی خدمت کې اووري تلن تانك جان او چیه پشه یی خلکه انتی به که اما وطنس مطبوعتناتلی کوچه ای وری امه باش پرنګکالاس پرانګ انکه ګرای یورندین وری به سد ورابیك.

وسلام

محمد زمان کلمانی

۱۳۸۱/۳/۱

کابل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# افغانستان

وطن اما افغانستان

امه شره ګېران شې

ګیران

میراثا یدې دروا

شیرین شرئ دیوان شی

دیوان

درواشې که پوړا

جپوا، یادړوا

سود رایاادرا

اما شې

اما

ویړ ین او جانین شپره

دیوان شی

دیوان

(c) ketabton.com: The Digital Library



وېړین که جانین شي

مالین که شرین شی

مپخي وطن

میخی ختن

پوره نیك کو!

دوان شی

دوان

پاوه شي سودرا

اسیا منجه چندوا

خوشبختی مي کوچه

اړجمعی مي کچه

لیوان شي

وطن اماشي ازاد

مستقل او شروړی

کیمان ننګا

شهامت افغانیدي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وعدان شي

وعدان

صلح وا ونينا

نه جنګ سالارنا

تې شرويکالنا

نه نادانـنا

خو عالمنا

پند لوړيك دې

امه.

وه حسن حسام

جو پېس اې

نظام

تادوې بت جيوان شي

جيوان

کابل، افغانستان لهمنګل پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اوسنې

بجدآ

بجدآ، ګه سهار

بيواشې

اوردآ

اوردآ ګه بهار

ايواشې

ظلم او تادا پواشې

لېونګري

ايواشې

تربګنی اوړدا

قلمې ګوردا

کتبې چالدا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خدمت وطنس

کاړهنواشې

لېونګري

ایواشې

ای ډشتها لیام

پښتون

اوچنتهالیام

بلوچ

تار داسهار

بیواشې

ظلم او تادا

پواشې

لېونګرئي

ایواشې

(c) ketabton.com: The Digital Library



آنچپلا چالدا

اي ګذارتاردا

شهيداشيدي

کفن سود راشي

مي منطقا کوچه

تحول اېواشي

ظلم او تادا

پواشي

لېونګري

اېواشي

پشه يي، نورستانی

الينا ليام آن

هزاره ګی او وری

مینی لیام آن

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوپېنې کاړهینم

قلم جبېدې

وطنې جوپیدا

تانك استیدې

لهدې خوشال بی

حسن حسام

ایمه و دیدې

ګه چېکه جمع بدا

اې بیرغ اوچیدې

کابل افغانستان لهمنګل پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه مرېکی ممې!

ګه؟

کوتي جبېس!

ميني

آي او

تاتي جبېس

استه نامېدې

تستوي

آن

ممې

چوئ لفظېلا

آمی

داردي جبېس

شن بوسيلبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سودري

مي

پشه يې جبېس

قافيه او

وزنی بوشن

مى
دموي جبېس
مم ليتان بيچم
مي
نويوي جبېس
داره ګله کوچه
لعل چندوي
هر اې دراکوچه
مى ډکوي جبېس
کابل افغانستان-لهمنګل پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماخول انداتې

تیس

ډشتۍاو شاتې

دوسو

نویوا

ویله پیداتې

نستستا

بویه تیز

پای دې موټاتې

آیك

یواندینا

جوتیکالا

ایك

وطنېنا

شرمېکلا

ایك

اېله چوینا

اچیاکین

(c) ketabton.com: The Digital Library



نامېدې

شریعت

ایك چوی

ازیت

ازیت

کیس پای
کچین موتې
کیس استیا
شن کتوي
کې دورایدې
هنوی
کاوبو سنگهسار بوي

لهمنگل پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مادا

ماراىوپلا
چوى ريزاى پلا
يوبتيل ايوپلا
هر
لهميلا ايوپلا

مې
دشمني
کګينچ
هرکوتي
جن پلا

مې
ببنى
کيګينچ
کاو
بى فرهنګ
اوبې کلتور

(c) ketabton.com: The Digital Library



آینچ

مې

انو

نامېدي

مسلمان

او

بی باتور

اینچ

مې

لهمنګل پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



وريو

ګړيوي

آما

نه آینچ

او

وري اینچ

مې

چوئ

کمزورشره

زور

منډوي

آینچ مې　　　　خو!

نامولوي اینچ مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اوړا

اوړا ای آزاد

اوړا!

فکر

مازاد اوړا

ودنۍ ګورا

خوشبختیس ګوراوی

څه شي

سمیش ګوراوۍ

اوړا ازاد!

آوړا

چنچای

(c) ketabton.com: The Digital Library



ازاد اوړا

ګه آچې امنې

امن

څه چلېك

چنچا

کابل افغانستان

لهمنګل پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انشیتان

ګلبهارشتل ودایې

سُرالك جا

پیچ دراکنایې

کابل کنر

نندی منجایې

هندوکش جنوبی

دمن ودایې

چندوا پشه یې

ملیت

کوچئ شې بکار

وحدت

کینا وطن شره

غیرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دارېن ککړا

شهامت

تاریخ لګي کوچه

اصل وایي

ثابت بیوي آن

می وطنس

لیونی ملیتیلا یه کوچه

عجزآن

نظام

انتی

کاړ

هیم

توجه مېنی درکار

شی. ډُرناماشې که اسکین

تګاوشې که اوزبین

الیشنګ اویا پوشکین

(c) ketabton.com: The Digital Library



الینګار شی که تې تین

آن پشه یې ملتس

قومیلئ

اي جبیس

لیلئ

افغانستنن

پولهلئ

وطن شره د یوی شن

جانیلئ

اریت، شلت او

واما ګل

شماس، چلسن یا

کنه ګل

دره نور شي که

نور ګل

کیل، ګوریك یا

(c) ketabton.com: The Digital Library



دیوه ګل

سیود ود ای دور

ننګاه

بیوي آن

عنعنادې

پوروي آن

پوړکوني رواجیلایدي

تستوي آن

تاریخ لګې کوچه اصیل وای

ثابت بیوي آن

می وطنس

کابل افغانستان

لهمنګل پروان

محمد حسن حسام

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وطن میني لیلام اس

امجنوني.

تاګه زنداتم

آیم: مدیوني

صداقت پلا خذمتستا اکیمي

شن اردرامميږ

کانوني

کاومینه شره ګران شيږ یو

وطنم:

ای پالي کوچه جهان وري

سوتنم:

ممی ترازاکوچه ګران شيږ

ای لامیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګه:

ځي پتنم.

زنداايم تېنه کچه کوچه

ګنې بواايم آتېنه اړه

کوچه

انشام تانك بخچه کوچه

تيني حقې ميني

خذمتم

شير او باري تي ميني

عزتم

کابل افغانستان

لهمنګل پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نونګاکلیس مبارکیه

چوئ اولسنې

دیم

چارویا وای کلیس پیغمي

ګه خې ثیم شې

مې وطن ګڼ اولسنی

اوچوئ قومیلنی

دیم.

استیل ای دده

محتبس اي. وریکو

شاباس، شاباس

ای ګیریس مبارکیه

افغانستن هرکوتې

جن نې

دیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وطن شره که دیجین جا نېلئ

روح آرام تیان

کاووار

درود

درود

تې

شهیدنې

دیم

کابل افغانستان

لهمنګل پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پرنګې

اوړاګه ازاد

پرنګې

چنچا

ازاد

پرنګې

آچې امنتې

صلح ترقي

ليونګري

اېګيرى

اوړا

(c) ketabton.com: The Digital Library



چنچای

آزاد اوړا

میس

بندیکیکي

نقصان دارګاه

ایله ارمان دارګا

کابل افغانستان

لهمنګل پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نويك مارينس

شاميك

اوچئ

لوش ديكالا

تارادوويل

اليك

تندر شره

ككين+ چتوي اپخيل ای

تاريك+ ككين+ تاريك

شاميك اوچا ايك

دی سال

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوچالا جای

دې اوړا

شامك اوشا ايك

دې سال

اما ذهنن كند

ايك

انچېن اندی کیاچین

البه لشيك كره بيس

البه لشيك كره بيس

کابل افغانستان

لهمنګل پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# هندوکش دمن کوچه

اګڼ بیوا

ایم

معلوم چېکه دنیا کو

نژادم اریایې

شې

افتخار داریم

پشه یې

دې

ملیتم شې معلوم

اوګنوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اي میلون

او یا میلون ودای

کم بوشې

تاریخ لګي کوچه

ګنوي آیس

می وطن

اصیل

ویې

دې

اصیل فرهنګ

کلتورس

خاوندني

می پویس

آیس

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرتجع نظامپلایه

بیلیوي

آیس

مي

اوتي

دي

وونان پوړکنی

شن

رواجیلان بو

عالی شن

جبین شي د موي

سانسیګیرت

الف

او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې

دې

وطن ننګاککیس

ونتهنام

وري ولسه پلا

سم شن

چوئ ودای

پوړادشمن

انیکما

شهېلې

دې

کابل، لهمنګل پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عزم طبعي

شې

فطرتې

ممې

دیکېن

ګه

آکیم + جوانن

اړودي آن

کېمې نه مونډیتان

بې

دي

حقوق شن مساوي

ویراوازو

پشه يې ملیتس

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایکو ټولهام
کینا
ختڼی
اوچار وړایې
دې
ملیتن بوعاجز انس
غیرت او شهامت
یې بوعالي شې
یا یس راوي لېتان نه بیس
آرګړا
کوچې
دې

کابل، لهمنګل پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



وطن

ای میني ګیران

وطنم!

ته پوه اي شیرمردنا

الیني شیراوباري تي

ګه چادرآی

باتورنا

مرچل آی

اړودېنا

اوزانګوآی

سربازنا

تنه نامه ودایيپ

قربان بیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مینی سودري

وطنم

میني ګوشنګم

میني ګورم

میني

تنم

تنه کوچه وطنم

نهضت بت

بجویی شن

(c) ketabton.com: The Digital Library



اِبرېن ګه

ودان کندې

قوت بت

بجوي شن

تيني ګله

داره کوچه

غيرت بت

بجوي شن

کونرکاړهنګا

نونګی نغما

اولس آنتی

مګا

(c) ketabton.com: The Digital Library



اباسین کوچه سیلاب

شی

آموشا باش

(دیګا)

ننګرهار ودآی

انیشتان

تاهرات او

بدخشن جا

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلمند ودآی

ویتهتان

تخار اوتا

جوزجن جا

کابل، زبل

فاریاب پکتیا

او تالغمن جا

جم وطن

نغما، نغما

شن.

آرکېرآی

تراناشن

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خلګه زندي كيچين

او نونګي كوئ

ولولاشن

مایم ګیران وطنم

ازادي مبارك

تيان

ظالمنه ودآی

خلاص آی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چوټيني مبارك

تيان

ته جغاآی

اسياس

اورني مبارك

تيان

ابلي ګينچ

تني ودآی

سودري سورشې

الوي

اندارآويل ويتهوي

شن

سودري سور شې

(c) ketabton.com: The Digital Library



الوي

ای کوته بیي

وطن پوړاپای

ودان

بیي

ویای بت بجوي

آن:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ختن کوئ ته

ودآن بیي

وري خواراو

فقیر نه تي

ته بوجل

بوستان

بیي

تیني پراخ فضا کوچه

طمعادا رئیس بیي

زندګیس

بکار کاروان

شاړیکن

ډمتیاکتیکن

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندګیس

ای:

مینی سودري وطنم

مینا افغانستم

تینی پوه ودآی

دوان بیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای مېنی ختم

اګه شيريم تيني
دركرې
توې دييمې
ای وطنم
افتخارشرای+ آکیم
خول ګه اړستم
ای ارمني
شيريم توې ديوام
شې
اوجانستم
ای ارمني

كابل افغانستان
لهمنګل پروان
محمد حسن حسام

(c) ketabton.com: The Digital Library



آمیس مینا

ودآی

پیدا

آیم

کییمې ننګا

بو

اړودا

ایم

دیوامی

سبق شې

داریلایه

نرم ایم

(c) ketabton.com: The Digital Library



مګرنرمي

کوچه

شخرا

آيم

وطن

تينه نامه ودائی

قربان

بيم

انونامېستي

ګه:

(c) ketabton.com: The Digital Library



آدیمي

بو

شادان

بیم

لهه وقت

مېنا ارمنم

بې

پورا

ګه:

تېنه

ترقی

اوپوړاپیك

کو

(c) ketabton.com: The Digital Library



آدوان

بیم

آپولهې ایم

وه وطن!

ته مینی

ایام ای

وړتان

نه بیمې

دشمن کو

ګه:

حیام آیې.

غیرت

زانګو

کوچه

(c) ketabton.com: The Digital Library



آ

تو

لپیکیم

ازنا

کوچه

مریکي

ګه:

ویام

آیی

کابل افغانستان

لهمنګل پروان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپینې وینې

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نوی انداز، نوې خبرې

((منځپانگه))

او

((بڼه))

د شعر دوه ارزښتونه دي

که دا دواړه ارزښتونه

د پخوانو په پېښو ولاړ وي

((روايتي شاعري يې بولي))

خو که

((منځپانگه))

او

((بڼه))

((نوښت ولري))

او د نوښت ارزښت پرې ورزيات شي

نو بيا دا شاعري

د ((جدت))

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ((ابداع))

پر واټ ګامونه کښېږدي

او د ادبي انقلاب لاره هواره کړي

ښاغلی حسام زموږ د عصر یو سپین ږیری شاعر او

لیکوال دی ((نثر)) هم لیکي.

((نظم)) هم لیکي.

خو دا ځل یې د دواړو په ګډون څه لیکلي

چې ادب پېژندونکي

((نثري نظم))

ورته وایي،

((نثري نظم))

په پښتو ادب کې نوی ((صنف)) دی

دا ژانر

له ((اردو)) نه

((پښتو)) ته راغلی

او په پېښور کې

((هاشم بابر))

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوه کتابونه

((د مېلې هلك))

او

((ورك موندلی))

په همدې نثري نظم کښلي

او د ادب په ډګر کې يې هنګامه را ولاړه کړې ده.

زمونږ شاعر او ليکوال

ښاغلي حسام

نه اردو نثري نظمونه کتلي

او نه يې د هاشم بابر

((ورك موندلی))

او

((د مېلې هلك)) ليدلي

ده ته خپل مبتکر مغز

او شاعرانه احساس

حکم کړی چې داسې يو څه وليکي

او پښتني ټولنې ته يې وړاندې کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ځکه ماته په یوه لیك کې لیکي:

((ستاسو د ګڼ شمېر بوختیاوو سره سره

زړه نا زړه

د یو څو ماتو ګوډو او ناقصو شعرونو

یوه ټولګه

چې نه یې ازاد شعر د شعر په څېر دی

او نه یې مقفا

نه یې په شکل پوهېږم

او نه یې په محتوا

خو په هر حال موږ ټول په دې عقیده او اند یو

چې هر څیز په اول کې خام وي

او په قراره ترېنه د پخلي تمه کېږي

نو ددې اصل په رڼا کې

په زړورتیا او په خلاص مټ مې

د ځان سره وپتېیله

چې ټولګه

په قلمي شکل کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسې حضور ته
د یوې لنډې سریزې لپاره
وړاندې کړم
که ټولګه په سریزې ارزېدله
هیله من یم چې هیله مې تر سره کړئ
او ټولګې ته به په خپله نوم غوره کړئ
او که....))
د مصریو نامتو نقاد
ډاکتر مندور وایي:
((شاعر خپل شعر ووایي
خو کله یې چې کره کتونکي وګوري
نو دومره خبرې په کې راپیدا کړي
چې د شاعر اروا هم ترې خبره نه وي))
همدا سبب دی
چې شاعران، هنرمندان او تخلیق کاران
د الهام په نوراني نړۍ کې
ډېر څه وایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ډېر څه په خوله ورځي

په خپله نه پرې پوهېږي چې دا څه دي؟

خو نقاد هغه ته

سبک ټاکي

شکل او فورم ورته ټاکي،

ادبي څېره ورته ټاکي،

قاعده او قالب ورته ټاکي

او بیا حکم کوي چې دا څه ډول پارچه ده

او نوم ورته ټاکي

ادبیات ټول لومړی ویل شوي

بیا قالب بندي شوي

او نومونه پرې ایښودل شوي

ځکه شاعر او هنرمند ازاد دی

هغه د ټولو قیدونو نه دباندې خپل هنر خلقوي

او خپل اثر رامنځته کوي

همدا ازادي ده چې

قالب شکني کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوي فورمونه رامنځته کوي

او نوي ژانرونه او صنفونه پنځوي

حسام صاحب هم دا کار کړی

خپل د زړه غږ يې د قلم غبرګ ته سپارلی

او له هغې نه دا نوی فورم او شکل جوړ شوی

او د پښتو ادب په ورشو کې يې يو نوی ګام ايښی دی

او له دې سببه دده دا ليکنه

د بڼې له پلوه په نوښت ولاړه ده

او زه يې يو نوی ادبي ګام او انداز بولم!

تر دې وروسته

دده ددې وينا

منځپانګه ده

ده د خپلې ټولنې

پېښو او بهيرونو ته

په غور او دقت کتلي

د سياست د لوبغاړو

تر زرزري جامو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او پوډري مخونو لاندې یې
د دوی اصلي څېرې لیدلې
((د دیموکراسۍ د کوکریو پرځای))
((سمسېرې)) (تمساوې)
((روې))
((ګورګټې))
او ((خپسې)) ورته ښکاره شوې
او د نورو ویرندوکو کسانو په شان یې
سترګې نه دي پرې پټې کړې
او پر دې یې نه دي پرې اچولې
په واز کومي یې
د هغه رښتیني ماشوم غوندې
چې غږ یې وکړ:
((پاچا لوڅ دی!))
د ټولو هغو لویو کسانو
د ریا او منافقت پردې څېرې کړې
چې په لوڅ پاچا پسې روان وو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو ددې جرائت یې نه درلود ،

ووایي چې:

((پاچا لوڅ دی!))

حسام صاحب په جرائت ویلي:

چې ((پاچا لوڅ دی!))

اوس نو د چاپلوسو

((پرده پوښانو)) خوښه ده

چې دا غږ ورسره غبرګوي

که بیا هم له منافقت او چاپلوسۍ نه کار اخلي!

او له دې رسوایۍ سره سره حال نه وای.

زه خو له حسام صاحب سره دا حقیقت او واقعیت غبرګوم.

((چې پاچا بربنډ دی))!
او د حسام صاحب د لیك هغه خبرې
چې ماته یې کړي
دده شکسته نفسي بولم!
او په پوره ډاډ وایم چې
د حسام صاحب
((دا نثري نظمونه))
هم د بنې له پلوه نوښت لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



او هم د منځپانګې له لوري
نو ځکه يې
زه ((نوی انداز
او
نوې خبرې)) بولم
مبارکي ورکوم
او وايم:
چې قلم يې چلاند
قدم يې تپاند
فکر يې ځلاند
او شعر يې تاند
اوسه!

په درنښت
حبيب الله رفيع
د افغانستان د علومو اکاډمۍ مشاور
کابل- ۱۳۸۵/۱۰/۲۷ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# په کوم ویاړ؟!

د قهرمانیو او اتلولیو، لاپو، پر لوړو غرونو قسمونو او پرتورې او مېړانې ویاړونو، له پېړیو، پېړیو راهیسې، لکه د بنګو نشه او لکه د چرسو دود ، زموږ عامه ذهنیت تخدیر کړی دی.

یوه ورځ تنکي نسل وپوښتل، پلاره! بابا! زما په کتابونو کې توره شته، اتلان شته، وینې شته خو ډوډۍ نه شته دا ولې؟

کوچني نسل بیا وپوښتل، پلاره! بابا! دا وران وطن ولې پر تا ګران دی؟ او که ګران دی نو ولې وران دی؟

هیچا ځواب ور نه کړ، له کوم ځایه غږ راته:

دا مو د بابا وطن...

... توره لرم، زغرې لرم

... سترګې به دې وباسم

او...

زما تخلیقي ادب، زما هنري ادب هم د همداسې افراط او تفریط ترمنځ سرګردانه و، کله به چې له التزام او تعهد څخه تښتېده، نو مې، هیخانه ساقي، بادامي سترګو او... ته یې پنا وړه، صوفیانه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



عرفاني سوليدلي اصطلاحات يې د تېښتې فکري دروازه وه، خو کله به چې تعهد او التزام ته راوګرځېد، نو داسې به د تورو په وهلو بوخت شو چې سترګې به يې د وينو په ډنډ بدلې شوې او يا به د وطن د لوړو غرونو په ستاينه کې داسې ورك شو چې خبره به يې جغرافيې ته ورسېده.

هيڅ ددې وطن د وړې ماشوم له اوښکې څخه غمی جوړ نه کړ او پر دغه الماس يې کونډې ته د ډوډۍ ګانه وانه خيسته، د قهرمانيو نظمونو همداسې دوړې بادولې چې سترګورو ويناوالو حقيقتونه وموندل او هغو ته يې د ويلو لارې ولټولې چا په کيسه، چا په شعر، چا په تحليل او چا هم په شاعرانه طرحو کې يوه نيمه سپرغۍ وموندله، چې زموږ حاجي صاحب حسام هم له همداسې ويناوالو څخه دی له هغې ورځې څخه يې چې په يوه نوي قالب کې ددغو طرحو ليکل پيل کړل يو شمېر يې ماته لوستې او دادی اوس يې بشپړ کتاب زما ترمخ پروت دی چې ده ته او درنو لوستونکو ته دې مبارك وي. ښاغلی حسام صيب هغو ترخو حقايقو ته متوجه شوی چې زموږ ډېرو هنرمندو ويناوالو لاتراوسه پرې څه نه دي ليکلي، وګورئ:

موږ هغه ولس يو

چې سوله په

سوال غواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګ ځښو په ژبه
بیا له جنګه
وبال غواړو
هسې تش ځانونه
ستایو
په تېرو ځان تېرباسو...
ترپایه
یا:
موږ هغه ولس یو
چې دښمن نه دوستي غواړو
بیا هم د اوبو پرځای
د وینو لښتي غواړو
ښه ځانونه کاندو ستړي
شیروار وشاربو له شګو
ترپایه

د ښاغلي حسام په وینا کې د شاعرانه تصویر جوړونې هڅې شته، استعاره، سمبولونه، تشبیهات او د بلاغت یو شمېر فنون لري، خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر هر څه مهم د پیغام له اړخه زموږ د پېړیو پېړیو معتادو وطنپرستو(!) ناظمانو ته هغه د استاد شپون خبره غابښ ماتوونکی ځواب له ځانه سره لري، ځکه خو زه دده وینا ته د پیغام وینا وایم او دا ارزښت یې د قدر وړ ګڼم.

د ښاغلي حسام په وینا کې هغه تریخ اجتماعي درد تر سترګو کېږي چې په حقایقو رنګ تمثیلوي له ځانه سره لري په لیکنو کې ولسي متلونه، اصطلاحات او ترکیبونه د ویناوال له خپلو ترکیبو او تشبیهاتو سره په یوه ساده او ټولو ته د پوهاوي وړ ژبه داسې ښکلې طرحې رامنځته کوي چې هر لوستونکي ته ددغې ټولنې د بدمرغۍ، ځانځانۍ او وروسته پاتې والي عوامل او ځانګړتیاوې معرفي کولای شي، زه د خپلو دغو ګډو وډو کرښو په پای کې خپل درانه دوست حاجي صاحب حسام ته وایم، چې راځه په یوه خندا او ځو اوښکو د ټول تاریخ د ویاړونو لاپې ومینځو او خپل سوځېدلی مکتب، خپل کنډر ښار او خپل وران ویجاړ ژوند ټولو افغانانو ته وروښیو او بیا د ماشوم نسل په شان ورځخه وپوښتو چې:

پلاره! بابا!

په کم ویاړ؟!!

عبدالغفور لېوال

کابل- میریس میدان

۸ لیندۍ، ۱۳۸۵ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تقریظ:

# سپینې وینې په سپینو ټکو کې

هر شاعر او ادیب د شعر او ادب بېله دنیاګۍ لري. خوږ ژبی شاعر او نثار لیکوال ښاغلي الحاج محمد حسن حسام بیا تکل کړی دی چې څه د نثر او څه د ازاد نظم په ژبه د خپل فکر مرغلرې د خپل شعر او ادب په مینه والو باندې وشیندي.

دا مرغلرې په (مناجات) پیل کېږي او ورپسې نور نظمونه یو په بل پسې راځي. که موږ دغه اثر له شکلي او موضوعي پلوه وتلو، نو کېدی شي چې د اوزانو او قافیو تول یې په پخه نه، بلکې په کچه تیره د تللو وړ وي. ان کله نا کله بېخي سړی د سوچه هنري نثر ګومان پرې کوي، مګر په یو شمېر دغو نظمونو کې یو تت شانته اهنګ شته. دا اثر له موضوعي پلوه د حاجي صاحب د جوړوونکي فکر خزانه په غېږ کې لري. په دغه کتاب کې د سپینو وینو انځور په سپینو ټکو باندې کېښل شوی دی او د هېواد او ولس په درد ډېر ساړه اسویلي ایستل شوي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې په څنګ کې کم څه چې ډېر اهمیت ور دي، هغه د لیکوال ژبه ده. په دغه کتاب کې د ولسي پښتو رنګ غالب دی، کومه چې زموږ د ګران وطن په کلیو او بانډو کې ویله کېږي. بله ښېګڼه یې داده چې شاعر نیوکې لري او د خپلې ټولنې تول په خپل فکر باندې کوي. څه ښه وایي:

ورخونه وچ کړو

په خپلو ګوتو

تشو شیلو نه

غورځنګونه غواړو

بیا داسې وایي:

موږ هغه ولس یو

چې سوله په سوال غواړو

جنګ څټو په ژبه

بیا له جنګه وبال غواړو

په رښتیا چې سوله په سوال نه غوښتل کېږي او د سوال په اوبو ژرنده نه ګرځي. ښاغلی حسام بل ځای داسې وایي:

موږ هغه ولس یو

چې دښمن نه دوستي غواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا هم د اوبو پرځای

د وینو لښتي غواړو

حاجي صاحب په هېواد کې د سولې د ټینګښت ته په دې ډېر اندېښمن دی چې دلته غوښه په پیشوګانو او کورت په موږکانو ساتل کېږي:

په پیشوګانو ساتو غوښې

بده خو لا داده

په غلو چې ښکته او پورته

د ښارونو

دا ګزمې وهو

هغه موږ یو

ددې ټکیو په اړخ کې دا خبره هم د یادونې و ده چې د حاجي صاحب په دغه کتاب کې یو شمېر تاریخي روایتونو ته هم اشاره شانته شوې ده، لکه:

نه پوهېږم

دا د کوم دور وژنه

په موږ سر خوري

ګوته په خوله نن

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پاتې کېږي

## فاتحان

## او د مغلو تیمور لنګ

حاجي صاحب د سبا لېواله معلومېږي. په څنګ کې د پرون مخالف هم نه دی. شاعر چې په حال زمانه کې د پرون او سبا ترمنځ ژوند کوي، ددې لپاره غږ کوي چې پرون به د پند لپاره يادوو او د سبا پر لور به غوټې وهو، ځکه وايي:

که د تېر نه عبرت وانخلو

او نن ځان سمبال نه کاندو

نو

سبا ته به په دې مکتب کې

انشاالله!

## ګورګټې لنګېږي

د حاجي صاحب دلته اشاره د تورې تلکې خاوندانو ته ده. څرنګه چې شاعر د سره خرص د تلکې له بدمرغيو نه خبر دی او په دې برخه کې غني تجربې لري، نو ځکه خپل هېوادوال د تور خرص د تلکې له راتلونکو بدمرغيو نه هم خبروي:

نن چې دا ستاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مريان شول

ستاسې د غاړې تلك

پرون يې موږ نيولي وو

ستاسې په څېر وو

هك پك

حاجي صاحب هغه كسان چې له هغو نه دده په فكر څه شی نه جوړېږي، غندي او خبرداری وركوي چې نورو ته د تېري لاس مه وراوږدوئ:

كه ته مړ يې

كه ژوندی

يې

هېڅ درنه

جوړ نه

دي

چانه چې څه

جوړ دي

هغه مه شرموه

(c) ketabton.com: The Digital Library



..........

تا هسې د جنت په هوس

خوشې ملاتړلې

وینه چې څوك توی کړي

هغه دوزخ کې لټوه

بیا بیا د لړلو چړو خاوندانو او د وینو سوداګرو ته دا وریادوي چې د وینو خرڅېدل ارزان او د مینو خرڅول ګران دي:

درسته ده چې وینه به ام کړی

خرڅه!

د اوبو په تېټ قیمت

خو د مینو خرڅول به

یو څه ګران ي

د وینو سوداګر ته

لنډه دا چې حاجي صاحب یو رسالتمند شاعر او نثار لیکوال دی. دی که نثر لیکي او که شعر، په یوه خاصه جذبه یې لیکي او خپل مظلوم ولس او رنګ بنګ هېواد ته له افغاني مینې او خلوص نه ډك پیغام په کې ځلوي.

د شاعر د نورو کامیابیو په هیله

محقق محمد نبي صلاحي

کابل- نوی ښار

۱۳۸۵/۸/۶ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د الحاج محمد حسن حسام کتاب ته

# یوه لنډه کتنه

پښتانه وايي: ((په خوړ کې کاڼي ډېر دي خو خبره د مڼ ده.)) هو! هره تيږه او هر کاڼی سړی مڼ نه شي ګڼلی او دا بايد ومنو چې هر کاڼی مڼ نه دی.

لکه څنګه چې هر کاڼی مڼ نه دی دغسې هم د هر شاعر او ليکوال ليکنې ته سړی د پخې ليکنې په سترګه نه شي کتلی. ښه او پخه ليکنه هغه ده چې د ملت درد ته په کې توجه شوي وي او ليکوال او شاعر د مصنوعي غټانو په خونو نه، بلکې د هغو واقعي دردېدلو، کړېدلو او ځورېدلو انسانانو په زړونو ورننوتی وي چې د داخلي او خارجي غليمانو له لاسه په کړاوونو اخته شوي او د هغوی د زړه خبرې يې بيا د قلم په ژبه د زړه په وينو په خپلو ليکنو کې بې له ډاره ښکاره کړې وي. خوشال خان ختک وايي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دستار تړي هزار دي

د دستار سړي په شمار دي

پګړۍ خو هر سړی تړي یا یې په سرولی شي، خو هره پګړۍ پګړۍ نه ده او نه د ټولو سړیتوب سره برابر دی.

اروابناد ګل پاچا الفت وایي:

د طوطیانو له وینا دا معلومېږي

چې خبرو باندې څوك نه سړی کېږي

سړی نه دی چې یې کار د سړو نه و

په خبرو که هر څومره ښه پوهېږي

که مو ږ د کټ لنډی بازو د کټ د اوږد بازو سره برابروو، نو په قضاوت پورې به مو د بصیرت خاوندان وخاندي.

کله چې زه د یو شمېر لیکوالانو او شاعرانو سره د ښاغلي حسام لیکنې پرتله کوم، نو هلته راته بیا د (حسام) تله درنه ښکاري. د نوموړي کمال په دې کې دی چې په نوي سبك په یو کوچني مطلب کې ډېره غټه مانا ځای کولی شي.

د مثال په ډول کله چې دده دا لاندې لیك په غور ولولئ نو په پوره اسانۍ سره په کې د افغانستان د نننۍ غم لړلې وضعې تصویر لیدلی شئ لیك دادی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوستانو!

کومه تومنه چې:
تاسې څه موده
مخکې دلته
د اوسنۍ نړۍ په
رحیم کې
د خپل شتون او
پنځېدو لپاره تویه
کړې وه
ددې پرځای چې
د دیموکراسۍ کوکرې
وزېږوي
په تاسف سره
هغه یې
تمساوې
روې
ګورګټې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خپسی

## وزېږولې!!

نوموړی همدغه د مانا نه ډك لیك كې د افغانستان راګیر شوي او اثیر ملت ته د اګاهی او خبرداری داسې پیغام رسوي:

چیست یاران طریقت بعد ازین تدبیر ما؟

دا هګی خو خوسا شوه له دې وروسته به څه کوو؟؟؟

كه زموږ ګران وطنوال د ښاغلي حسام ((زه كابل یم)) اثر په غور ولولي، نو هلته به ورته دا خبره پوره جوته شي چې كابل چا وران او چا زموږ په زرګونو بې ګناه وطنداران ژوندي د خاورو لاندې او چا زموږ مادي او معنوي هستی تالاترغی كړه او نن د پارلمانه تر حكومته څوك د اقتدار په څوكیو ناست دي؟؟؟

هو! نن سبا چې د افغانستان له كشالې نه انجړه مشوره جوړه شوې او د پای ټكی ورته سړی نه شي پیداكولی، لوی علت یې دادی هماغه خلك چې كابل یې وران كړ، له ولسوالیو تر ولایتونو له ولایتونو تر وزارتونو او آن تر پارلمان پورې په دولتي دستګاه كې ننوتي او د ملت وینې د ګورګټیو په څېر څښي.

د ښاغلي حسام بل كمال دادی چې د سرمایې لرلو سره سره د نورو په څېر نه چې د وریښمو د چینجو په شان د سرمایو په غوځو ورننوتي، بلكې له هغې ډلې راوتلی او د خپل كړېدلي ولس په بده ورځ ژاړي او خپل خلك یې نه دي هېر كړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغسې اشخاص د قدر وړ او لوی خدای(ج) دې په افغاني ټولنه کې لاپسې زيات کاندي.

زما هیله داده چې زموږ لیکوالان او ویناوال په خاصه توګه ځوان نسل د (حسام) صاحب لیکنې په غور ولولي.

**محمد حسن ولسمل**

کارته اریانا- کابل

**د ۱۳۸۵ل کال د لیندۍ ۱۰مه**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ويناوال څو لنډې خبرې

# په لومړي ليك کې

دوستانو!

کومه تومنه چې تاسې څه موده مخکې دلته د اوسنۍ نړۍ په رحيم کې د خپل شتون او پنځېدو لپاره تويه کړې وه. ددې پرځای چې د دموکراسۍ کوکري وزېږوي، په تاسف سره هغه يې تمساوې، روې، ګورګټې او خپسۍ وزېږولې(!!!)

په درناوي

ستاسې دوست

حاجي محمد حسن حسام

دربېم پروان، کابل، ۱۳۸۵ل کال

د ليندۍ لومړۍ نېټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ویناوال څو لنډې خبرې
# په یو پیغام او یو لیك کې

دوستانو!

تاسې د خپل مکتب او د خپل مسلك پرونۍ ګورګتۍ د خوارو افغانانو د وينو په رودلو او ښنبلو دومره څربه او چاغې کړي دي، چې اوس يې تاسې ته هم د خوارېدو چل نه درځي.

موږ په دې عقيده يو هر استاد خپلو شاګردانو ته ټول چلونه نه ښيي، د خپل ځان د خلاصون او شتون لپاره يو نيم چل ترځنګه پټ ساتي. تاسې مهربانۍ وکړئ د خپل وروستي چل نه کار واخلئ، په موږ افغانانو کې نوره يوه څاڅکې وينه هم نه ده پاتې چې ستاسې پرونۍ ساتل شوې او روږدې ګورګتۍ يې ورووي.

نو هيله من يو چې دا ګورګتۍ همالته وتړئ د کوم ځای نه چې له موږ پسې مو نيسای کړې وې.

په درناوي

ستاسې دوست

حاجي محمد حسن حسام

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مناجات

ته يې خالق
دادې مخلوق
دی ربه
که پیدا کوې
که لویوې
که زېږوې
یا پنځوې
په ځمکه
څه دې
کمېږي پرې
نه؟
خیر دی!
لږ يې توانا پیداکړه.
لږ يې دانا
پیدا کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په کُره کې نور

نو،

ناتوانه افغان ځای

نه لري.

کله یې یو ربړوي او

کله یې بل ربړوي د

زمانې د فرعونیانو

نه چې:

خلاص شي

سمدس

بیا نو دخپلې نادانۍ

په وجه،

د ماشومانو په څېر

په خپل منځ کې

یو، بل،

ښه ډبوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نن بیا ؟!

نن بیا د یزید په زړه
د کُفر ویښته شنه شول
تیتوېم هسکې شملې
او دنګ
سرونه
زمانې بیا زموږ
په لور
اوچلې
تریو کړې
په موږ وېشي د
باروتو
خروارونه
په خرپ رېبي او په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترپ ترپنه

روان شي

تر شاه پرېږدي

د سرونو

درمندونه

دا د کومې بورې

شوې

مور

خيرا ده

مورډ ته

شوې

چې له:

تنو مو ودروي

فصلي ټلونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# توبه!

اهورا[۱] که دومره
بې خبره
او ساده ده
چې اهریمن[۲]
یې تل
تېرباسي
په ډولۍ کې
د کوه قاف
د ښاپېرو
په ځای
دېوان مور ته رالېږي
زموږ د بدنصیبو
او بدشامتو[۳]

(۱) خوشبختي
(۲) شیطان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګرمانه[1]

یو ځل نه چې
دا ځوم ځل دی
د لوی شیطان
زامنو
د اهورا سره
په
وېش کې
ډېر تورمخي
او بدرنګه
لوی دیوان یې
زموږ د پاکې
ځمکې
د حرم په هره لوېشت
کې

(۳) بدقسمت
(۱) جرم

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مېړو په څېر

خواره کړل

د ولس په ګرمانه

یې

بې له کومه

مسولیته

څه خلك یې

کښته

څه نور یې

پاس ولو[1] ته

سواره کړل.

[1] اوږې، شانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تشي شيلي

ټپه تياره کې
موږ رنګونه
غواړو.
په بلمنګې[1] اينګولي[2]
کې خوندونه غواړو
د هر سهار
سره په
لوښو، پوښو
خو د مابښام نه
آرمونه[3]
غواړو

[1] بې مالګې، بی نمک
[2] قطغ، کتغ
[3] نشان با نشان

(c) ketabton.com: The Digital Library



د نن په غېږ کې
ویده پراته یو
تل د ماضي نه
شوګیرونه

غواړو

پرون پرست یو
سباته هیڅ نه لرو
لکه هندو نه چې
قرانونه

غواړو

ورخونه[۱] وچ کړو
په خپلو ګوتو
تشو شېلونه
غورځنګونه

غواړو

[۱] په کوم ځای کې چې اوبه تقسیمېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وبال

[

موږ هغه ولس یوو

چې سوله په

سوال

غواړو

جنګ ښتو په

ژبه

بیا له جنګه

وبال

غواړو

هسې تش ځانونه

ستایو

په تېرو ځان

تېرباسو

تېر به په خپل

ځای و

(c) ketabton.com: The Digital Library



د اوس بدرنګ

د لال نه

جلال

غواړو

په تېټو خړو

سترګو،

دنګ سرونم[1]

جزامیانو ته

ورغوو[2] کې

نیولی

د ورځې تر قیامت به

د دجال نه

بلال

غواړو.

[1] جملې د لنډوالي لپاره کارول شوی، په اصل کې (سرونه مو) باید راشي.
[2] د لاس د پنجو منځنۍ یا کف دست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شل[1] نیلي

موږ هغه ولس یوو چې:

د دښمن نه

دوستي

غواړو

بیا هم:

د اوبو پرځای

د وینو

لښتي[1]

غواړو

ښه ځانونه کاندو

سترې

شیروار وشاربو

له شګو(!!)

د پښېمانۍ

[1] ګوډ تېز ګام اسونه، اسپ های لنګ تیز رفتار

[1] ویالې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرځای له شګو

غوړي

غوا ړو(!)

اوښ پرېږدو

بار يې پرېږدو

او خاوند يې هم

ورپسې پرېږدو(!!)

په وروستو کې

تېز[1] خري سره

نښتي

ځونډي

غوا ړو

او

په پلرنۍ کرونده کې

شنډي[1] پرېږدو

باري[2] وربېو له

[1] د حيوان د شونډک يو قسم حلقوي پړی دی.

[1] بې حاصله

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېخه
بیا:
عجبه خو لا داده(!!)
په شنه زور
د شنډنه
باري
غوارړو
یا به خوب وي
یا به خیال وي
یا به تشه افسانه وي
چې:
د شل نیلي سپرونه
د اوربدو
لارو وهلو
بري
غوارړو(!!!)

(۲) حاصل ورکوونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تالان[۱]

دا قحط وهلي
ملخان خو په هېڅ
شي اسره
نه کړي
اُف!
دا څومره دي
تور زړي
د ګل پانو نه
ګل
ښه
خوري
د ښارونو د

[۱] تاړاک، چور

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلا
تالان ته وتي په
خاص
نوم دي
وئ!
دا څومره دي
سخت زړي
د بابل
نه
کابل
ښه خوري
دا د زوز
او
د مازوزو
اولاده
ده
سترګې په تندو

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړي
اخ!
دا څومره دي
بد زړي
د ازل نه
افضل
ښه خوري
دا زموږ د زمانې
تورې بلاوې
او ریدونه
څه عاجز دي
ویش!
دا څومره دي
شر زړي
د هر بل نه
بلبل
ښه خوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکلا وخوري

ډانچې

موږ ته

د

تحفو په قسم

پرېږدي

اخ!

دا څومره دي

کلك زړي

د کاکل

نه

اوربل ښه

خوري

بیا دې خیر

کړي

د زاغانو سیل

زموږ په

(c) ketabton.com: The Digital Library



لور الوتی

هو!

دا څومره دي

ویر زړي

د هر څه نه

(...) مل

بنه خوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# انځورګره یاره

یه!

انځورګره یاره

او سپین

سپېڅلی

اشنا

زه پسېشا[1]

مین یم

ستا د انځور په

ښکلا

یو ځلې بیا

راپاڅه

په پستو نرمو

ګوتو

[1] په غیاب کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زمانې په

تندي

يو تت انځور

وکاږه

د لوح[1] په کوزه

څنډه

د خپلو خلکو

ځنې

محفوظه يې

و نه ساتې

پام کوه، تير

نه وځې

چې تور ته سپين

او سپين ته

تور ونه واى.

[1] ويناوال مطلب د ځمکې له تختې څخه دی (د ځمکې مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# شپو ته شملې وهل

په تبرګو چې خپلې
ښپې وو[1]، هغه
موږ یوو،
په شپو چې تورې
شپې وو، هغه
موږ یوو،
د هرې شپې سبا ته
او د هر سبا بیګا ته
د سبا نه یې په
زور اخلو،
او بیګا ته چې:
شملې وو، هغه

(۱) وهو

(c) ketabton.com: The Digital Library



موړ یوو،

پیاز باروو لوګر

ته،

په دارنګه بې فکرو چې

ټېکي وو، هغه

موړ یوو.

په لېوانو تل رمې

پیایو

په پیشوګانو ساتو

غوښې

بده خو لا داده په

غلو چې کښېنته او پورته

د ښارونو دا

ګزمې وو، هغه

موړ یوو (!!!)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګوته په خوله!

په کومه ورځ

چې په

سرونو مو،

نسیا[۱]

معاملې،

پیل شوې.

پس له هغه،

زموږ وینو

کې

اوبښ رغړي[۲]

سات ترمنځ.

نه د عاد[۳] وه

(۱) افساد
(۲) خویدل، لخشیدن
(۳) د عربو ابتدایه قبیله وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبیله

دومره سرکشه،

نه جنګ و

د ثمود[۱] دومره

بدرنګ

نه سکندر دومره

سخت

زړی

نه اتیلا[۲] را

پاریدلی

نه هتلر

او

نه چرچل[۳]

چېرته ژوندي دي

نه بناپارت[۴] مسکو ته

تللی

نه چنګېز دومره

[۱] د عربو یوه ابتدایه قبیله وه.

[۲] په غرب کې فاتح تېر شوی دی.

[۳] د دویم نړیوال جنګ معلومدارې خبرې دي.

[۴] ویناوال هدف د فرانسوي ناپلیون نه دی، کله چې په مسکو یې حمله وکړه د مسکو ښار یې د انسانانو نه تخلیه شوی ولید. دا پېښه پر ۱۳۸۳ او ۱۳۸۴ل کلونو کې په کابل کې هم تکرار شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژلي وو
نه اورنګ
نه پوهېږم؟
دا د
کوم دور[۱]
وژنه
په موږ سر خوري[۲]
ګوته په خوله
نن
پاتې کېږي
فاتحان
او د مغلو
تيمور
لنګ.

[۱] زمانه، وخت
[۲] برابرولی، سایز، اندازه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سنبال!

مور!
د همدې کلي
استوګن
په ډېره زغرده
شاهدي
ورکوو
چې پرون
زموږ
د ماشومانو په
لوبغالو
او په
همدې ښوونځي
کې
برګو کوڅه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډبو

سرو، سپو،

او

تورو، لېوانو،

انګولا کوله.

که؟!

د تېر نه عبرت

وانخلو

او نن ځان

سنبال نه کاندو

نو!

سباته به په دې

مکتب کې

انشاالله؟!

ګورګټې

لنګېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# تلك!

پرون،

ستاسې د همدې

جومات

چړيانو

څه اوس دلې[۱]

او څه لښکې[۲]

دلته يې د ژوند

لويه

ښکلا ځپله

د هر افغان

څرمن

يې،

په خپلو پڅو

او

(۱) دلته.
(۲) هلته كوز

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورستو چړو!
ښکته نه پورته
او پورته نه
ښکته په نوکو
ویستله
د شر، شریعت او
حور حوریت،
نغاره
کله یې
دلته او
کله یې
هلته،
په ډېر شور او
په ډېر زور
وهله.
څوک چې به یې بدې
ایسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې كنډواله شوي
مُلك كې
په آن[1] وفان په كوم
ټاپه چې اوس ترې
ټول ويرېږئ
د هغه كم بخت په
تندي ليك
به يې ؤ پر ژر
مبتلا
نن چې دا ستاسو
مريان
شول ستاسې د
غاړې تلك[2]
پرون يې موږ
نيولي وو
ستاسې په خير وو
هك پك.

(۱) سمدس، فلهان، فوراً
(۲) مخصوصه اله ده چې ښكاريان يې هوا د مرغانو او وحشي حيواناتو د نيولو لپاره كاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا خو!

دا خو!

ستاسې هغه شاګردان

دي،

چې د ښکلا سره یې

پتنه ده.

د رڼا نه ډېر یرېږي[1]،

د تورتم سره یې

شپه ده،

مینه عشق یې

بدې

ایسي،

خو وژنه یې ښه

[1] د کونړ اکثره خلک د (ویرېږي) پرځای (یرېږي) تلفظ کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حرفه ده،

د تاریخ سره نا

اشنا

دي.

دغه توره یې

نور ورسته ده!

د ویاړنو

دي

بېلونکي

د افتخار

سره یې

پرته[1] ده.

[1] دا اصطلاح د دښمنۍ په مانا اکثره پښتانه یې کاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بقا او که پنا؟!

اغښکلي

دربښلي،

خو نور مه لمدوه

څه چې دي

وران کړي

خیر دی

نور مه ورانوه

د پنا او د بقا،

خالق خو بل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هغه يې

تر څو پايي

ته يې مه قتلوه

ژوند خو يو

نعمت دی

چې الله(ج) ټولو

ته ورکړی

ستا که بدې

ايسي،

ځان الوزوه(!!!)

که ته مړ يې که

ژوندی يې

هيڅ درنه جوړ

نه دي

چانه چې څه جوړ

دي هغه

مه شرموه

(c) ketabton.com: The Digital Library



تا هسې د جنت

په هوس خوشې

ملاتړلې

وینه چې څك توی

کړي

هغه دوزخ کې

لټوه-

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ځربول!

دا د کومې
کربلا
تندې وهلي
چې د اوبو نه وینې
ښې څښي
د خپل ځان
په
ځربولو،
له هډوکو غوښې
ښې خوري
څوك يې وخوړ
په ولاړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د چا يې

وشپېلل[۱]

هڅوکي

چانه يې

ورودلې وينې

خو بيا هم ماړه

نه شول،

دا د لړم په څېر

بچي دي،

په خپل منځ کې

يو که يې سر

نو بل يې

ښېپې خوري.

(۱) چوشیدن

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ښامتا سالو!!

ښه ښايسته،
غوټه مو ده
مخکې،
دا هريمن ميره[۱]
زامنو!!
د اهورا د ناوې
شال تر پردې
لاندې،
چې نغښتی و
د ښامتا په تور

[۱] هغه اولاد چې د يو مور او پلار څخه نه وي زېږېدلی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سالو کې

خو په حقیقت

کې،

یوه ځاله ه د

غټو

موږ بې وسو به په

غټو، غټو

سترګو

په رڼو، رڼو

کتل،

ژبیم[۱] پرې[۲] وې

په تالو کې

دې دشمر[۳]

پاتې شونکو

تول د خپلمې[۴]

(۱) ژبې مو

(۲) غوڅې

(۳) په عربو کې سخت زړی کافر د اسلام په اولو وختونو کې تېر شوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړو راجمع،

ځوك د خپل

انګړ په غولي

ځوك دبر کلي

وستل[۵] کې

ځوك د کوز جومات

په تل کې

له يوه

تېغه يې

تېر کړو

ځوك يې

سپين او

ځوك يې

تور کړو،

خو!

[۴] له مخې، تول.

[۵] هغه ځای ته ويل کېږي چې د چا شخصي ملکيت نه وي، د کليو جرګې او مرکې په کې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا هم؟!

عبرت نه اخلو

د یزیدیانو

کارنامو ته

حوسیږو

پزیم د اوړو

دي او

د ښپو نه پرې

ساء

اخلو.!!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زورور اوبه...

دلته د سترو
کاروان سرای
لوټ
پوټ دی
دلته د ښکلو
ښاپېریو حرم سرای
شوك،
شوك دی
دلته په دې ځنګله
کې
هیله امید په
ځناورو تړل
د لېونتوبه پرته
په کې ستا مال
او زما سر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوك

ټوك دى

دلته په دغه

بې تدبيره او

بې تعبيره

مُلك کې

د زورورو اوبه

مخ په،

پېچومې[۱] خېجې[۲]

ښنل د غريبو

وينې،

په سرېښت نه

خو په تاوده

ګوټ

ګوټ دى.

(۱) مخ په نښغه.
(۲) خېژي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زموږ ویره؟!

که شملې په زور زیاتې
شي له سر کښته
باك[1] یې څه دی
خو ویره مو
په دې ده
چې د سرونو
سوداګر ته یې

[1] عیب، پروا

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سرنکړي؟!

ښه دی تر یو وخته،

د وخت تقاضا همدا ده

سخته به هغه وي

چې دا ملك

د ټول عمر

بستر نکړي.؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې وباله!

زموږه د
کاروان
لوټماران
او زموږه د
ښاروان
قاتلان
په توره شپه لا
څه چې؟
په سپین سبا
او په رڼا
ورځ کرځي.
په خپلو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ننګينو او شرماورو

کړو

د افتخار نغارې

هره لحظه،

ډنګوي.

چانه د باج[1]

په نوم

هسکه شمله په

غنيمت ټيټوي

چانه د راج

په نوم!

سپېڅلي څلي

بې وباله

د جانان

ړنګوي.

[1] د يو چانه د يو شي اخيستل په زور باندې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وینو سوداګر

د سرونو
پرېکېدل
که
د جلاد په
ساتول
وشي
ډېره ښه
ده
شرم اور دی
د سرونو
خرڅېدل

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جلاب[۱]

په لوی

جبونو

درسته ده چې:

وینه به ام[۱] کړي

خرڅه،

د اوبو په

بیت

قیمت

خو د مینو خرخول

به یو څه،

ګران وي

د وینو سوداګر

ته.

[۱] کمېشن کار د معاملې جوړونکی په دوهم لاس

[۱] ویناوال (به مو) په ځای د جملې د لنډیز لپاره به ام، کلیمه کاروليِ چې د داسې کلیمو او جملاتو استعمال د شرقي پښتنو په ژبه کې کارول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جلابان!!

ای!

زما لویه خالقه،

دا څنګه،

شر غوبل دی

چې ترپایه

نه خلاصیږي؟

دلته،

پټې څه

قیصې دي

او د ژبې

لاندې

څه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خبرې؟

خو موږ پرې نه

پوهېږو.

دلته وینه هېڅ

رنګ نه اخلي

د اوبو نه یې

قیمت ټیټ

دی

دا په دې چې

د سرونو

سوداګر مو

جلابان

دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زموږ مخې ته؟!

د پنجاب د جادوګرو
څپې بيا په ملك
خورې دي
خدای دې خير کړي
څه ادلې او څه
بدلې
افسانې دي
څوك يې ښکته
دموي څوك يې په پورته
ورانې جاړې[1] مشوړې[2] دي
څه په کوزه
څه په بره
رانه پرېکړل
يو وجود دی
که مې لاس او که مې
ښپې دي

[1] انجړ، ګډوډ

[2] پخوا به په څرخه باندې د پاغوندو نه جوړېدلې، چې هغه به خام تار هم باله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوك د چل او څوك
د ول ځنې كار اخلي
په بهانه د
القاعده وو
په كې
ګرمې نغارې
دي.
پښتانه خو
د ازله بدبخت

نه وو

اوس پرې

څه بلا پرېوتې

چې ښکته يې

شملې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګودال

چې حساب نه وي
کتاب نه وي
مکافات،
مجازات نه وي.
دا خو؟
یو ګودال[۱]
دی
نظام نه
دی.
چې برېښو یې[۲]
بډو درغلۍ
او شوکمارۍ

[۱] کثافات ځای
[۲] فرمانبردار، طرفدار، ساتونکی، خوش خدمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته

ملا تړلې

تر غړۍ وي

دا اوپره[۱]

پوشال[۲] دی

زمام نه

دی

چې نه جمعه يې

د جومات وي

او نه وعظ

په ممبر

نه غږ د

محتسب په

مقتدي وي

تش وياړي

چارچوبۍ[۳] ته

(۱) توسن، په ډېر اندک فشار باندې له منځه تلونکی.
(۲) غلام.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اما نه

دی.

چې نه ګرم کړي

وجود

او نه خوای

کړی زیږ

پوټکی

نه وباسي له

زړونو

خیرن خیري

دا یخچال دی

حمام نه

دی.

(۳) د جومات هغه برخه چې هلته لمونځ کوونکي په کې اودسونه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# امن

په سوله او سلم

که شپې

سبا کړي په

یو بڼ کې

باز نه نیولې

آن وړه

چرچرۍ

ځومره به ښه وي

چې

یو باغ

کې

ښښتي د

پورې

پاڼې، اغزي

او غوټۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



امن کې
باتې که شول؟!
د پړانګانو او
لېوانو
ځنې
واړه
زیږه[۱]
حیوانات او
هم د غرو غرڅنۍ
زما په آند
چې
هلته به کېني
عدالت په
کورسۍ.

[۱] نوی تولد شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مشوره

بسم الله کړه
د پښتو دا
متل ښه
کلك کړه
حساب په
کلك
بخشش په
لك کړه
دا، واړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدایان!

لږ څه

هك

پك کړه

له بډو یې

وباسه

دا،

غټ، غټ اوښان

نور پرې

شرمېږي

دغه

خوار افغانان

هم ترې

ځان خلاص

کړه

او هم موږ

ترې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بچ[۱] کړه

د شا اړولي[۲]

ولس به

درته مخ

وګرځي

بيا ،

دې کوه

پاچهي(!!)

(۱) خلاصون، په ځنګ کېدل

(۲) رویګردان، خفه، مانیجن

(c) ketabton.com: The Digital Library



# جوارګره یاره

یه!

زما

جواګره

یاره

جواري دې

بیلودله

داو[1] کې اوس

بړدې

سرونه

خپل خو دې

هېڅ

نشته دی

[1] د جوارۍ میدان ته د پیسو، زېوراتو او نورو قیمتي شیانو غورځول، عبارت له داو نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکای[۲] د

بل

مالونه

سودا[۱]

پوځی

ته وتی

حریف ته

کای

سوالونه

دادې په

ګټه نه ده

ځان نه ګرځی

مخونه.

[۲] ورکوې

[۱] دا اصطلاح په خرید او فروش کې هغه وخت کارول کېږي چې يو جنس د دوکاندار نه څوک په تيټه بيه وغواړي يا پخوا به چې د پوخ لپاره چا خريداري کوله جنس، يې په نازل نرخ اخيسته نو دې به يې ويلې سودا پوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پاړوګره ياره

يه!

پاړوګره[۱]

ياره

شاتو کې ډک له

زهره

شپېلۍ دې

بيا

پو کړه

ډولکی دې

[۱] مداري، د مارانو او نورو ضرر رسونکو حشراتو نيونکی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړنګاوه

اوږده

اوږده

ویده

ویده

نار ونهر

ښاماران

دغه تور سري

ماران

سپېره

سپېره

شنه او

سره

غونډلان

کربوړي پرېږده

ان دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



بور[1] منګریان

تول دي د

څېلمې[2] په جنتر

او منتر

بیا راوینښ

کړل

پام[3] دې وي

چې:

پښتانه

اودې[1] دې

کار نه کوي

دا ځل دې

ما او تا ته

یو شان

الله(ج)

---

[1] هغه رنګ ته وايي چې نه تور وي او نه سور وي.
[2] له مخې، تول
[3] فکر
[1] په دم باندې د کنټرول لاندې راوستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خير پېښنوي

داسې ونه شي

چې:

دا تور بلاګان

يو ځايم[۲] ونه خوري

سره.

[۲] يوځاى مو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زما بدګره[۱] یاره

يه!

زما بدګره ياره

موږ خو نيولې

وې

په ښو فالونو او

په نېکه لاره

او هم په دې

شګون، چې:

ته به زموږه

(۱) په شرقي پښتنو کې هغه چاته ویل کېږي چې په خپلو پیشګویو باندې غلا او غله رسوا کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د لوټ شوي
کاروان غله
وموميږ
او د ځاروان د
قاتلانو پسې
د پلزنو[1] په حېر
پل راواخلي
په دم دعا
په کُف او چُف
خپله کوزه
وګرځی
ګڼي؟
معلوم کړي
د ښپو خاپونه يې
او د لاسونو
نښې

[1] دا خاص خلک وي چې پل او منډ معلومولی شي او تر ډېر ځايه پورې مشکوک اشخاص تعقيبولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په بډه شوي

اوښان

چې:

اوس يې

ښېپې

ښکته

زانګي(!!)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لړلې چړې

هغه!

زموږ په وينو

تکې سرې

او لړلې

چړې

چې:

دوی لا اوس

هم په بډو ګرځی

کله پرې تا

کله پرې ځان

ګواښوي

کله پرې ما

کله جهان

ګواښوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قربانۍ ګډوری

د قربانۍ ګډورو
په نوم
مورږ یو څو تنه
پیایي
وخت چې د
ذبحې او د
حلالولو راشي
نو په خپله خوښه
د قصاب چړې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرۍ اوړدې

ونیسو

په تویدو

سره سم

د زمانې

وچو

څلوپه[۱]

سپلۍ

وینه ام[۲] شي

پرنده[۳]

اول:

کارغان په کې

مښوکې

مښې

بیا:

(۱) د څلوښتو د شمېر لنډيز دی په دري کې چهله ورته وايي د ژمي څلوښت ورځې.
(۲) مو بايد راشي، خو لیکوال د کلیمې د لنډيز لپاره (ام) کارولی.
(۳) په دري کې ورته لخ او بعضې پښتانه ورته خکر هم وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپي او

لېوان يې

ښځې

په غوښوم

وبونېږي[۴]

مچۍ، غومبسې

او ارمانجنه

مچان.

خدايګو!

زموږ د

بې عقلۍ په

وجه

نه، نه،

غلط شوم ومې بښئ

د خپل جانان

په فريب(!)

(۴) هغه اواز چې افهام او تفهيم په کې موجود نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ثواب په

ځای عذاب

ګټو

بیا :

هلته

په بله

دنیا

ارواویم پاتې

وي

په پورې

اړه

پل صراط تر

څنګه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# سپینې وینې

څه موده مخکې:
دوی(!!!)
زموږ وینې سرې
نه ګڼلې او:
ویل به یې چې:
د سپینو وینو
بهول مباح دي
نن ولې بیا کوم
اسماني کتاب کې؟؟
دا روایت ددې راوي
په خوله
په تته ژبه
په نښتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اواز

په ټيټو سترګو

په ژېړ زبېښلي

رنګ

د ملا او امام

د پادری[۱] او خاخام

په فتوا وايي

نه، نه موږ

غلط شوي په

مودو، مودو

وو

اوس د سپينو وينو

پر ځای

د سرو وينو تويول

حلال دي.

[۱] د عيسويانو او يهوديانو مذهبي پيشوايان

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مباح!

پرون چې:
تاسې زموږ
وينې
د کرستل په جامونو
کې
د شرابو پرځای
په سر اړول
په دې پلمه
چې:
زموږ وينې
سپينې او
مباح وې
نن بيا:

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه پېښه ده؟

چې د اپاچي

په وریته ګرو

داناکونډا په

نوم او یا د غرود

زمري

او هم د

غره د یرغل

په شر غوبل

کې

او سم غوښې

وریتوی

په مزه، مزه

هډوکیم

د چجو سره

خوری

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زموږ د کلي ملك

زموږ د کلي دملك
د کاله
په سره وچه مړۍ
د کوځه ډبو سپو او
زموږ د زیارتونو
منجاور و او
خیراتګر و تر
منځ
د کلونو او پیړیو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اوږده پټنه کې

او کله نا کله

د پردو په ژبه

د دوی د تقدیر په

جنګ کې

نصیب ویده او

تدبیر عاجز پاتې

شي

بیام[۱] د کوڅو روونه[۱]

او یا:

هغه پورې زیارت

زموږ د کلي وستل

هم پېغلوټو ګودر

د دېرې هر یو نیالګی

د هوجرې کوزه خوا مو

یا لولپه شي

[۱] بیا مو د لنډیز لپاره کارول شوی دی
[۱] لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا په برخو

یا په بنډو[۳] وېشي

خو د ملك په مشرۍ

دغه سپېره جګړې ته

په تریو ترینګلو تندو

نوم د برې ورکړي.

[۳] حصه یا برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د ملکۍ تیږه[۱]

زموږ د کلي په
وستل کې
د ملکۍ تيږې تر
څنګه
داهريمن[۲] سکه
زامنو
ښه ناولې
تاغوتۍ[۳]
او ښه چو[۴]
کړې

[۱] په وستلونو کې د ملکۍ تيږه نسبت نورو تيږو ته يو څه فرق يې په همدې کې دی چې يو څه نقش او نګار لري.
[۲] د شيطان پلار وزيزی او مور وزيزی ورور- يا زوی
[۳] دروغجن، کاذب
[۴] د اوښ ملاست حالت ته ويل کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بار پرې پروت

دی

په امبار[۱]

د پرې[۲] شوو

ډېر سرونو

انډی[۳] ډك

به پروندو[۴]

وینو

ځیګر وای

کاندي

او غرمبېږي

شنه ځګونه

له خولې

باسي

د سرونو او د

(۱) په یوځای باندې د یو شي راغونډول په ډېره پیمانه باندې، دا اصطلاح ورته کارېږي.
(۲) غوځ
(۳) دوري یا د بار یوې برخې ته وایي.
(۴) خون لخ شده یا خکر شوې وینه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وینو

سوداګر یې

شاوخوا ته

راپنډ

شوي

یا به توت[1] ځي

د جنتیانو سرې

وینې

او د

بلهاریانو[2]

دنګ[3] سرونه

یا به ورکړي

پرې سکې

او ډېر فونډونه

(١) حدر، هسې، مفت.
(٢) شهیدانو.
(٣) لوړ، اوچت، جګ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګوراؤ[۱]

ګوراؤ!
پرون زموږ د کلي
یو خان سړی وژلی
ډیر ګران
سړی وژلی
او جانان
سړی وژلی
په ګومان
یې
بې ګومان

(۱) د افغانانو پښوا انګلسانو توته دې اصطلاحوې کاروله دي، انګریز پرنګی اوګورا.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی وژلی

زموږ د بدنصیبو قافله

کې چې دی ښه ته

د ښاروان

سړی وژلی

د کاروان

سړی وژلی

ټینګ لکه

سندان

سړی وژلی

په ګومان یې

بې ګومان

سړی وژلی

د زلمو د جلسو شمع او

د زړو د جرګو جمع

په رښتیا د

دسترخوان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی وژلی

ځوان

سړی وژلی

په ګومان

یې

بې ګومان

سړی وژلی

ځانته د خپلو لوی

پلار نه و په پردو

یې

مهربان

سړی وژلی

په خوله یې

تل قربان و

همدغسې

قربان

سړی وژلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښوزلو يې
درمان
سړی وژلی
په ګومان
يې
بې ګومان
سړی وژلی
په سړو کې ښه صورت و
خدای ورکړی
په خدايګو!
با ايمان
سړی وژلی
مسلمان
سړی وژلی
په دنګوالي
يې
افغان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی وژلی

په ګومان یې

بې ګومان

سړی وژلی

فیض د ځمکو یې خیر

خیرات به و د ټولو

په مټ

یې

پهلوان سړی وژلی

دهقان سړی وژلی

او باغوان سړی وژلی

په ګومان یې

بې ګومان

سړی وژلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اشیل

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دا منظومه

ښاغلي حسام دادی په پښتو ادب کې یو بل نوی ګل وغوړاوه او د اشیل منظومه یې ولیکله. د خپل هېواد تاوده او اورني حالات یې په تودو احساساتو له لرغونو اسطورو او حماسو سره وتړل.

ماته حسام صاحب دا منظومه په خپله واوروله، د اورېدو پر وخت زه په خیال - خیال کې د پنځه دېرش وړاندې کلونو وخت ته لاړم، هغه وخت ته چې په هېواد کې ارامه ارامي وه او د هېواد لوی فیلسوف اروښاد شهید ډاکټر پوهاند سید بهاء الدین مجروح د ((نا اشنا سندرې)) په نامه یوه فلسفي منظومه کښلې وه، د یونان له اساطیرو سره غوټه شوې وه او ماته یې د لوستو لپاره راکړې وه.

د شهید مجروح نه اشنا سندره رښتیا هم نا اشنا سندرې وې او نوې ادبي بڼه یې درلوده خو پّ زړه پورې داده چې د حسام صاحب دا منظومه هم همغه ډول سکښت، جوړښت او نوښت لري او مهمه داده چې زه باور لرم نا اشنا سندرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



حسام صاحب ته نه دي رسېدلي او نه يې لوستي، دوی دا کار د تقليد په بڼه نه بلکې د توارد په بڼه کړی او يو نوی ادبي اثر يې خلق کړی دی.

حسام صاحب دا کمال لري چې په خپل اثارو کې د خپل تـاوجن عصرـ تـاوده حالات په مهارت او خوږه ادبي ژبه ځايوي او په هنري شکل يې انځوروي.

زه يو ځل بيا حسام صاحب ته ددې نوي کوچني خو عالي اثر مبارکي ورکوم.

په درنښت

حبيب الله رفيع

۸٦/۵/۱٦

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د اشیل یاد

اشیل په لرغوني زمانه کې د یوه یوناني اتل نوم و، ددغه اتل په لوبو کې د یوې پښې غټه پله پرې شوه.

کله چې له دغې پیښې وروسته سخت زخمي شو، نو له مسابقو نه یې لاس واخیست، نوموړی ددغې پیښې په سبب مړ هم شو.

درانه لوستونکي، ددغه کتاب د پښتې په لومړي مخ د لرغوني یونان د اتل اشیل خیالي پورتریت هم کتلی شي.

کله چې امریکایان، انګلیسان او نور بهرني پوځونه افغانستان ته راغله، دوی د طالبانو پر خلاف خپلو بریدونو او حملو ته مختلف نومونه ورکړل چې یو له دغو نومونو د اشیل نوم و.

محترم الحاج محمد حسن حسام د اشیل په نامه پیل شویو بریدونو ته په پاملرنې سره، خپلې شعري مجموعې ته د اشیل نوم ورکړ، تاسې په دې برخه کې ددغه لیکوال او شاعر قضاوت لیدلی شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښاغلي حسان د هېواد په روانو حالاتو د سیاسي ادبیاتو د لیکلو پـه برخـه کـې د مخکښو لیکوالو پّ ډله کې د حساب وړ دی.

د ازاد شعر په بڼه دغه ټولگه ډېره اوږده منظومه ده، پـه اوسـنیو دري ادبیـاتو کـې نامینالیستي شعر ته د (کوتاهه) او دغه ډول منظومې ته د (شعر بلند) نوم ورکـړل شوی دی.

په منظوم او مقفي کلام کې له پنځلسو نیولې تر دوو سوو او یا له هغه نه د زیـاتو بیتونو شعر ته قصیده وایي، مگر دغې منظومې ته د قصـیدې نـوم ځکـه نـه شـو ورکولی چې د شاعر په خپل شعري سبک د ((منظوم نثر)) په بڼه لیکل شوې ده.

په هر حال، په دغه اثر کې افسانه او حقیقت دواړه سره اغږل شوي دي. د یونـان د لرغونو افسانو او د اشیل د تاریخي حیثیت تـر څنـگ، د افغانسـتان د لرغـوني تمدن یادونه هم شوې ده.

دغه کتاب چې د ښاغلي حسام نهم اثر دی، په پښتو ادبیاتو کې یوه نوې هڅـه ده چې ویناوال ته یې په لیکلو مبارکي ورکوم.

په درنښت

څېړونکی محمد نبي صلاحي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څو لنډې خبرې

د ۱۳۸٦ هـ ل روان کال د وري په میاشت کې مې د ازادۍ راډیو نه یو نوم واورېد چې له دې نوم سره مې په ادبیاتو او تاریخ کې د پخوا څخه بلدیت درلود.

ددې نوم په اورېدو سره چې ماته جالب و، د ازادۍ راډیو ویاند ته ښه ځیر او غوږ شوم، په نوم یې توضیحات ورکول. خو د ازادۍ د راډیو د نطاق توضیحات ډېر کم، کمزوري نیمګړي او ناقص و.

خو دومره پوه شوم چې د غرب لوی ګډ جنګي ماشین هلمند کې او حتی د افغانستان په ټوله جنوب غربي حوزه کې د ((اشیل)) په نوم پوځي عملیات یې پیل کړي دي.

دې جنګي عملیاتو ته به البته سترو، سترو نظامي او پوځي جنرالانو همدا نوم خوښ کړی و چې همدې جنګي عملیاتو ته یې غوره کړ.

زه خو دې سترو، سترو جنرالانو سره په فکري لحاظ همغږی او هم رکابه نه شوم او د یونان د مفرغ د عصر نه ماتېدونکي پهلوان ((اشیل)) په نوم مې یوه کوچنۍ او لنډه شان منظومه په ازاده شعري ټولګه کې د پښتو ادبیاتو په وره په ساده ټکو کې د ټولو نیمګړتیاوو سره د یو تاریخي ضرورت له مخې نویسته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د هېواد په خورو، ورو ځنډو کې د پاکستاني پټ تربیه شوي بې سرحده ترهګر پوځ او نړیوال ائتلاف تر منځ عملیات د پیکه او بدرنګو نومونو د چتر لاندې کله د اناکونډا په نوم، کله د غرونو د زمرو په نوم، کله د غرونو او کوهستانونو د یورش په نوم او کله د باستان یونان د نه ماتېدونکي ((اشیل)) پهلوان په نوم روان دي.

دلته پهلوانان د کمزورو په سملولو لګیا دي، زورور ته یې ملا ماته ده.

دلته ښاماران او اژدهاوې هر څه په یوه نواله له ستوني تېروي، ماشومان تنکي رژوي، ښځې خوري، بوډاګان شپېلوي، خو خپل دېشر کلن او اویا کلن زېړولي بچي نه خوري، د خپلو لعلونو د موندلو په لټه کې دي.

دلته د غرونو زمریان د ځان په څېر ځناورو ته هېڅ نه وایي، ځانته د هوسیو په ښکار اخته دي او هوسۍ ماتوي.

دلته غورنه حملو ته ځان سازوي، کوهستانونه په یورش ورځي، په منځ کې ګیر شوي بې اسرې انسانان رېز مرېز کېږي او هېڅوک پرې رحم نه کوي، ګناهګار او بې ګناه ته نه ګوري د غرونو زړونه له کاڼو جوړ دي په سترګو کې یې نو (نم) نشته، په هېڅ اسره ګیر نه دي، خپل دوست او دښمن نه پېژني، ځان نه پېژني، بل نه پېژني، ما نه پېژني، تا نه پېژني، فقط یو څه پېژني چې:

هغه مرګ دی، ورانی دی، تنفر دی، وینه ده، وېره او وهم دی، ویر او ماتم دی، شور او غوغا ده، ژړا ده انګولا ده او هاها ده...

(c) ketabton.com: The Digital Library



اى خالقه چې نه يې غواړم مه يې راكوه! موږ افغان ولس خو نور جنگ جنگ نـه غواړو، ډوډۍ غواړو، پوهه غواړو، مكتب غواړو، كار غواړو، ژونـد غـواړو او د خپل هېواد ابادول غواړو. موږ اوس پوهېږو چې جنگ جگړې انسانان، افغانـان او مسلمانان د مرگ په كومي خپلې وړې دوزخـي او جهنـومي گېـدې تـه د تـل لپاره په مقدسو او نامقدسو نومونو ننباسي او نابودوي يې.

اى پهلوانانو، د پردو د غرو زمريـانو او ښـامارانو! زمـوږ پـه سـملولو، مـاتولو او خوړلو ستاسې نوم نه كېږي، خپل مدعي او پټ دښـمن د خپلـې ږيـرې لانـدې وپېژنئ، لږ ښكته ورپسې ورتېر شئ، ستاسې غولولو ته يې دلته په سيمه كې ښـه كلكه ملا تړلې، دوى پخوا نورو ته هم دلته په دې هېواد كې دامونـه ايښـودلي او تاسې ته يې هم په دې هېواد كې دامونه خواره كړيدي. هسـې پـه ځـان بانـدې د غټو او پيكه نومونو په ايښودلو هيڅ نه كېږي. نوم په ځـان كـوچنى كېـږدئ خـو كار غټ او ښه وكړئ، الته په هغه ((وحشت جزيـره)) كـې ستاسـې د كيميـاوي تعاملاتو او تعدلاتو په وجه چې كوم څو سري ډېرو خـوړونكي او كپچـه مـاران پيدا شويدي هغه له منځه يوسئ، نو هله به هم ځانته، هم موږ تـه او هـم د نـړۍ وگړو ته نجات وركړئ او كه نه نو...

په درناوي

حاجي محمد حسن حسام

د اريانا كارته

۱۳۸۶ كال، د زمري مياشت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اشیله[1]

قهرمانه

پهلوانه

د یونانه

راته وایه

راته وایه

چې:

د څو پېړیو وروسته

---

١ : دا د مفرغ د عصر یو نه ماتېدونکی پهلوان و، دلته لیکوال د مخاطب له مخې اشیله کارولای یعنې اشیل دی کله چې امریکایانو د ۲۰۰۷م کال په سر کې په هلمند کې خپل عملیات پیل کړل، نو خپلو عملیاتو ته یې د اشیل نوم ورکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راژوندی شوې

د یو مزاجه

لیونیه

موږه ډېرې

کیسې ستا دي

اورېدلې

د یونان لرغون

تاریخ دي

غږولې

وروسته ستاسې

پاتو شونو یې [۲]

بیا نورو ته

ویلې

اوس چې

بیا ته

راژوندی شوې

ښه شو

۲ : وروستنی نسل، یا د یو چا چې یو څوک پاتې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه شو

چې ته راغلې

د هیر [۱] مند لویې

لمن ته

او د بخدي [۲]

زوړ تمدن ته

کارنامې به دې

په زور او زیر کې [۳]

گورو

ای سرکشه

او خود سره

د تروا [۴] د جنگ

اتله

د مفرغ د عصر [۱]

۱ : د هلمند پخوانی نوم

۲ : د بلخ پخوانی نوم

۳ : پورته او ښکته

۴ : یوه سیمه وه چې پارس پورې مربوط وه، چې ددې سیمې پاچـا د یونانیـانو خدایـه (هلـن) وتښتوله بیا هغه و چې اشیل ددې جگړې گټل په غاړه واخستل او دا جگړه اشیل وگټله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مله

د هکتور د سر [۲]

قاتله

راته وایه

راته وایه

د دوزخ سختۍ دي

ډېرې

که جنت اسان

موندی شي

هلته هم

ګوتو په شمېر

پهلوانان شته

یا زورواکي

ده

د څو کسو

او که نه؟!

۱ : د باستان د عصر نه مخکې یو بل عصر هم تېر شویدی چې دې ته په تاریخ کې د پهلـوانۍ عصر یا د مفرغ عصر وایي.

۲ : دا د تروا پهلوان و چې د اشیل له لاسه په جګړه کې ومړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوره وره

ستا په شان

ځي

مفت او جفت

اوو جنتو

ته؟!

که کمزورې

ډلې، ډلې

ځي

روان دي

زمحرير [۱]

او دوزخو

ته

راته وايه راته وايه

ای اشيله

سر سبيله [۱]

۱ : د دوزخ ډېرې سړې برخې ته وايي.

۱ : دا د پښتنو يوه اصطلاح ده چې ياغي، باغي کس ته استعمالېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یونان د

افسانو

د اوږدو لنډو

کیسو

څه درباندې شول؟

اخ!

پښه دې وښویېده

د مغرب د جنګ

افسره

د تروا د جنګ

اتله

د مفرغ د عصر

مله

د هکتور د سر

قاتله راته وایه

راته وایه

څنګه تېر شوې!

په دې پلنو

(c) ketabton.com: The Digital Library



لوی بحرونو

په دې ارتو [۱]

لوی ډاگونو

په دې

تنگو خندکونو

په دې سختو

اغزن لارو

په لوړو او

اوارو

ښنگه راغلې؟!

د اژه سمندر [۲]

زړه نه

په ژورو، تېټ

او پاسو [۱]

ښله [۲]؟

---

۱ : پراخ

۲ : پخوا د مدیترانې شرقي څنډو ته اژه سمندرگي ویل کېده.

۱ : پورته او ښکته

۲ : ولې، ښنگه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د څه

نه.؟

ښنګه تېر شوې

په دې لویو

ګړنګو

په دې ګرانو

تامبېړو

په دې سختو

تاترو

په دې هسک واورین

سرو

البته!

د بخۍ په څېر

پرتې مورګې

د غره خدای وې

بدل کړی په

ایرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هومر [۱]

وینا له

مخې

ته د پرې

شیل [۲]

سندره

د تروا د جنګ

اتله

د مفرغ د عصر

مله

د هکتور د سر

قاتله

راته وایه

راته وایه

ای اشیله

چې راوړي دې

۱ : د یونان یو خوږ ژبی شاعر دی چې د میلاد نه ۸۵۰ کاله مخکې زنده ګي کوله.

۲ : د پښې شاتنۍ برخې پښې ته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېر څه دي

یا

کم څه

بد دي

او

که ښه

د الماسې

د توري

څوکه

په سنکیا [1] لړلی

ډال

دي

په کوم ځای کې

تېره کړل

آب دي

ورکړ

ډک له زهرو

١ : زهر

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې زخمونو د

ارشاک [۱] او د

ضحاک [۲]

پرې تل

ناسور کړې

او د زمبر [۳] ټټر

پرې

سور کړې

لکه وژني

انسانان پرې

د خوارانو نه

خواران پرې

دا په ژوندی چې

پکو [۱] شوي

۱ :د میلاد نه څو سوه کاله مخکې د بخدې د شهزادګانو او پهلوانانو له جملې څخه وو.

۲ : د میلاد څخه څو سوه کاله مخکې د بخدي د پاچاهانو او پهلوانانو څخه وو.

۳ : د میلاد څخه مخکې د اوسنۍ پکتیا او لوګر په سیمه پهلوان تېر شویدی، زمبر اصلاً زبردي په پښتو کې قوي ته او نه ماتېدونکي ته ویل کېږي لکه زبر ځواک، زبردست.

۱ : په تنګ شوي، سترې شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او له ژوند نه

ستړي شوي

د پېړيو

دوزخيان پرې

ته چې چا

رامخ ته کړی

ستا تاريخ

خو سر نه خوري

د هغو سره

د سره

د اژاکس [۲]

د لارې

مله

د تروا د جنگ

اتله

د هکتور د سر

قاتله

۲ : دا هم د مفرغ د عصر يو پهلوان تېر شويدی

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مفرغ د عصر

مله

راته وایه

راته وایه

پهلوانه

د یونانه

دې مظلومه

او انپړو [۱]

افغانانو

د پېړیو، د پېړیو

دې بدبخته

مېسنیانو[۲]

د ازله پیدا شوو

مینو سیانو [۱]

تاته یې

څه

---

۱ : بېسواده

۲ : کله چې د اژه سمندر په زړه کې د ترا غر وچاودېده د هغې چاودنې او طبیعي فاجعې په اساس دا قبیله له منځه لاړه، دا فاجعه د میلانه ۱۶۰۰-۱۴۵۰ کاله مخکې منځ ته راغلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاوان درکړی

تانه يې

څه په زور

اخستي

که هلن [۲] ته يې

بد کتلي

تاته يې

کوم بد رسولي

ستا د سخا او د مروت

واټن په منځ کې دا خواران خو

دېرش کلنه [۳]

کلدار [۱] کندې

۱: دا هم د مفرغ د عصر يوه قبيله وه چې د اژه سمندر په خوا و شاه کې د مېسنيانو سره يو ځای اوسېدله کله چې د ترا د غره طبيعي فاجعه منځ ته راغله، دا قبيله د هغې فاجعې قرباني شوه، دا فاجعه د ميلاد ۱۶۰۰-۱۴۵۰ کاله مخکې منځ ته راغلې وه.

۲ : دا اسپارت د پاا (منلائوس) ښځه وه چې د پاريس ترو ايي شهزاده وتښتوله هلن د يونانيانو خدايه هم وه.

۳ : د ليکوال مطلب دلته په هېواد کې دېرش کلن جنګ دی.

۱ : کله چې د ترا اور غورځونکي غره د اژه سمندرګي (د مديترانې شرقي برخې) ولرځولې چې د بشريت په تاريخ کې يې مورخين د لومړۍ طبعي انساني فاجعې په نوم يادوي کومه کنده چې رامنځ ته شوه هغه کندې ته کلدرا ويل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایرې خورې

هسې خوشې

ته په قهر یې

په غضب دې

د ښپو لاندې

ځمکه رېږدي

په شور یې

هم په زور یې

په کومه لار چې

ته روان یې

دا باغیان

خو

ستا پښو

ته

سجدې نه

ږدي

ځکه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترا [1] د اور

بخري

ځان نه

شيندي

مینو تاور روس [2]

د یوویشتمې

پیړۍ ته شوې

د انا کونډا [3]

کړوسیه

د پردو د غرو زمریه [4]

د ځان ځانۍ

ښامار

لمسیه

۱ : دا هغه غر دی چې د اژه سمندر په زړه کې د میلاد څخه ۱۶۰۰-۱۴۵۰ کالـه مخکـې اور غورځـونې منځ ته راوړی.

۲ : د یونان په قیصو کې ده ته نیمایي انسان او نیمایي نر غوایي ویل کېږي.

۳ : اژدها ښامار چې د امریکایانو د یو عملیاتو نوم و، البته دا عملیات په ۲۰۰۳ کـال کـې پـه پکتیـا کـې وشول.

۴ : دا هم د امریکایانو د عملیاتو نومونه دي، چې په ۲۰۰۶ کال کې په کنړونو او نـورو ولایـاتو کـې یـې سرته ورسوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوني سترگې دې

د وينو کټورو غوندې

دې

بقې راويستلې

له پوزې دې

اور وځي

تاو دې

خېژي له

گوگله

د تروا د جنگ

اتله

د مفرغ د عصر

مله

د هکتور د سر

قاتله

راته وايه

راته وايه

قهرمانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د یونانه

نو ولې دې

بې ځایه

کوکې خېژي

شپېلي کړې

او غرمبېږي

غرېږي او

تشېږي

ډکېږي او

پړسېږي

شور او

شر دي

عالم [۱] ونیو

چې په تنګ

شي

مېږه تون [۱]

باندې

۱ : دا یوه عامیانه اصطلاح ده چې پښتانه ډېرو وګړو ته د عالم لفظ استعمالوي.

۱ : دلته د لیکوال مطلب د هغه موجوداتو څخه دی، چې چاته ازار او مزاحمت نه شي پېښولای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پښې بږدي

بې ازاره انسان

وژني

وهي غرو سره

ډغرې

او په لاس دي

څه

درځي نه

د هوپلیت [۲]

د سر

لښکره

د تروا د جنګ

اتله

د مفرغ د عصر

مله

د هکتور د سر

قاتله

۲ : په یوناني ژبه کې د درانه بار عسکر ته ویل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشیله!

د یونان د افسانو

ما چې ستا کیسې

لوستلې

ستا چرړې [1]

د ملاو ستنې [2]

خو شنه نه وه

تکه سره وه

او سمبول د جنګ

جګړې وه

فیض د سره

ورکې نه و

یو عزا وې

شرارت وې

د ادیانو په پتنه کې

د خوارانو په

وژنه

۱ : د ټوټې یا ټیکې یوه ټرانګه یا یوه برخه.

۲ : د ملا د ترلو ټوته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د قرنونو مشهوره

مختورنه

هسې مفت

خو

ډالۍ نه يې

د څو کسو

زورواکۍ

او زرواکۍ

ته

هم کوچنۍ شان

شرمېدلی

شورواکۍ

ته

د بې حسابه کلو

وروسته

لا دې بيا هم

تلل وکړل

د سپک کاڼي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



تله

د تروا د جنگ

اتله

د مفرغ د عصر

مله

د هکتور د سر

قاتله

اي اشيله

سرسبيله

ته چې دې خواته

راتللې

په تکل ددې هېواد

چې:

ته به يې ايل کړې؟!

په همدې نيت دې

د نگلې [1] !

د سفر توښې [2] دې ملا

---

۱ : توپ وهل، خېز اچول

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورې

تړلي

ډال او تورې دې

بلو [۳] پورې

مښلې

چاته دې ويلي و

مشورې والا دې څوک و

سلا چا درته درکړې

چې افغان په لورې

ځه ته

يو خوار په خېټه وږی

په تن لوڅ

په ښپو پای ابلې

هېواد

ښپو لاندې

کوه ته

او که نه

۲ : ازوقه په سفر کې د کار امد شی.

۳ : دا يو ډول مخصوصه تيږه ده چې جنګي افزار تېره کولای شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما په خیال

په پستو نرمو

څو خبرو

منیروا [۱] دې

غولولې

د اترو جادوگره

د تروا د جنگ اتله

د مفرغ د عصر

مله

د هکتور د سر

قاتله

ای اشیله

سر سبیله

قهرمانه

د یونانه

کومې ورځې نه

چې دلته رسېدلای

۱ : د پخوانیو یونانیانو خدایه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږه د خوارانو

اهورا [۱] ته

ګوانښېدلای

په ښېو کړې دې

موزې دي

د فولادو

زنځیرونه دې جربېږي [۲]

سپینې تورې دې

خرپېږي، نخښېږي او پرقېږي

له ډېره کبره دېرشمنۍ [۳]

توره او ډال په زنګنو وړې

خولۍ ډېرې خو

په سر بږدې

خو د سروپو تاج

په ښنګ یا په ورنو وړې

چل به نه کړې

۱ : د پخواني اریایانو د خوشبختۍ خدای.

۲ : د اوسپنو دروند اواز.

۳ : د یونان په اساطیرو کې ویل شویدي چې د اشیل توره او ډال دېرش منه و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ول به نه کړي

ځان دې ښه

سمبالوه

چې نه شې په جګړه کې

ته کاواکه او [1]

اوتره [2]

د تروا د جنګ

اتله

د مفرغ د عصر

مله

د هکتور د سر

قاتله

اشيله

سرسبيله

د باستان

يونان

تاريخ کې دې

۱ : بې توازنه

۲ : وارخطا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان ځای و

هومر [۱] دي

سندربول و

په ایلیاداو [۲]

اودیسه [۳] کې

خوندي پروت وې

داسې نه چې دلته

مات شي

خدای مه کړه

چې خلاص نه شي

د بلې ښپې له

شیله

اشیله

سرسبیله

همدومره ویاړ دي

۱ : ویل کېږي چې د یونان دا خوږ ژبی شاعر چې د میلاد نه ۸۵۰ کاله مخکې تېر شویدي د عمر په اخر کې بیا ړوند شو.

۲ ، ۳: دا په یونان کې دوه کتابونه دي چې د خپلو قهرمانانو په توصیف کې ویل شویدي، په دې کې د دانشمندانو او محققینو اختلاف نظر موجود دي، ځوک وایي چې هومره ددغه کتابونو شاعر به ښار په ښار او کلي په کلي گرځېده او ویل به یې او بعضې محققین وایي چې دا کتابونه د هومر نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بس و

ستا دېرش منۍ

د الماس

توره

تلل شوې وه په

تله [۱]

د تروا د جنگ

اتله

د مفرغ د عصر

مله

د هکتور د سر قاتله

۱ : ترازو چې يو شی پرې تلل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشیله

سرسبیله

میوند [۱] خو

تروانه ده

نه بخدي [۲]

یونان په

څېر دی

نه دا پېر [۱]

باستان څېر دی

نه غربي

افغان په

۱ : دا په قندهار کې هغه سیمه ده چې انګرېزانو په کې اتلسمه میلادي پېړۍ کې د افغـان او انګلـیس پـه دوهمه جګړه کې د سردار محمد ایوب خان په واسطه ماته خوړلې وه.

۲ : د اریایانو پخوانی ټاټوبی

۱ : زمان، وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښېر دی

پهلوانان خو

دلته نه شته

که ارجن، کرن [۱] په هند کې

زال، رستم [۲] په دغه سیمه

ټول د ښېرمې دي

مړه شوي

چې ستا مقابله کړي

له افغانانو پاتې شوي

دا د ترپ او خرپ

بچوړي

دا د واړه جسم

وګړي

د پاخه عمر

خوړلي

اکبر خان [۱] سره

۱ : دا دواړه د تره زامن و، چې په هندوستان کې نامي پهلوانان تېر شویدي.

۲ : په اریانا کې پهلوانان تېر شویدي.

۱ : د لیکوال مطلب دلته وزیر محمد اکبر خان دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترړلي

د ایوب خان [۲] د

لښکر

پلي

د ملالۍ له ټپې [۳] نه

په زر وارې

زار قربان شه

ستا د پاره هومره

ټول عمر سندرې

چې بوللي [۴]

اسره مه کړه

صرفه مه کړه

ازموده دې

خپل زورونه

د کاپرو نه

۲ : د لیکوال مطلب د میوند د جنگ فاتح دی.

۳ : د لیکوال مطلب هغه ټپه ده چې: که په میوند کې شهید نـه شـوې، خـدایگو لالیـه بـې ننگـۍ تـه دې ساتینه.

۴ : ویلي- یا سندریزې ویناوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاپره [۱]

د تروا دجنګ

اتله

د مفرغ د عصر

مله

د هکتور د سر

قاتله

۱ : عام پښتانه ف په پ بدلوي، نو دلته لیکوال د ف په ځای د پ حرف استعمال کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اشیله

سر سبیله

قهرمانه د

یونانه

تا په پس کوړکۍ [1] کې

چې زور کړی

دی د ګیدړ

بچوړي

پهلوان نه دی

---

۱ : روڼ اندي خو ټول په دې پوهېږي چې غربیانو په پس کوړکۍ کې دلته یې کوم هېواد وزېږېد او د پس کوړکۍ یعنې د سپین ږیرتوب بچي چې دا ډېر ګران هم وي نو پاکستان واقعاً په غربیانو ډېر ګران هم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ښه دوست

جامه کې

د احرامي

بخوړی [۱]

د اوږدې

سمڅې خوله کې

د تکو تورو سره

د پیکه سپورو سره

هلته په دوو ناست دی

شو ستا د تندي

تبرګی [۲]

اخر شو تاته

برګی [۳]

ځومره چې

۱ : د لنګې بوره شوې غوا بچي چې مړ شي پوستیکي یې د بوسو نه ډک شي.

۲ : کوم دوست ته چې څوک تږل امکانات په لاس کې ورکړي د هغه امکاناتو په واسطه چې بېرتـه پـرې اولنی شخص تهدیدېږي، پښتانه دې ته دا کنایه استعمالوي.

۳ : دوه رنګه نو کله چې څوک په قهر او غصه کې راشي رنګ یې تغیر خوري نو ځکه پښتانه دا اصطلاح کاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وخت تېروي

ټوله نړۍ به

ترینه سر ټکوي

دغه د زهرو حلوا [1]

په پسته نرمه ژبه

په جادويي خبرو

تل يې په ما خوړلی

کله يې په تا څکلې [2]

ستا خو پروا

پرې نشته

چې پهلوان يې

د وخت

بنیاد زما يې

وایسته

ولس يې ټول

راته سرسامه

۱ : دا یوه کنایه ده، چې موږ افغانان خپلو دوستانو ځومره تېر ایستلو.

۲ : لیکوال کنایه استعمال کړې، لیکوال وايي که په ما د زهرو حلوا خوروي، خو په تا يې هم څکې، لکه په لندن کې انفجارات یا د نیویارک د برجونو نړول او په غربي نړۍ کې نور تخریبي فعالیتونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېونی غونډې کړ

په کُف او چُف يې

ځپلنی غونډې کړ

د لړمونونو د

سرو زرو

چاړه [۱]

د هرچا خېټه کې

په زوره منډي

دا د ورېښمينو

غوټه [۲]

دغه په سم کې

کاږه

په کسو [۳] هر څه ويني

بيا په ليدو کې

ړانده په غوږو هر څه اوري

۱ : ليکوال کنايه استعمال کړې، د سرو زرو چاړه خو زموږ لوستونکي حتماً پېژني، د متل سره به يې هم اشنا وي، چاړه که د سرو ده ځيگر د منډلو نه ده.

۲ : دا هم د پښتنو په اصطلاح او حتی متل دی يعنې په نرم کې کلک.

۳ : د سترگو هغه برخه چې ليدل پرې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په اورېدو کې

کانه

دا په کلکوای

وراسته

دا په ساده کې

ګلدار

دا په غربت

مالدار

دغه د ګټو مزدور

دغه د وټو [1] باتور

دغه د څټو مړې

دغه بې رحمه پړي

نور نو:

ستا په کنډو [2] نه درځي

ستا کیمیا ګرو

۱ : د پیسو بدلول رابدلول وټه هم ورته وایي (صرافي)

۲ : دا د پښتو یوه اصطلاح ده څوک چې د چا په ښه نه راځي بیا نو ورته دا صطلاح کاروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جنګي ماشين

کې

دغه بې موره بچي

دغه بې پلاره زامن

د مقدسو ارواګانو

په ځای

منجيله شوي

د وحشت

د جزيرې

تورماران

وزېږول

لږ پسې ښکته

تېرشه

دا دومره نه دي

ترېنه مه يرېږه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حیا سترګې یې

نشته

ترینه مه شرمېږه

هم ترې ځان خلاص

کړه

او هم مور ترې بچ [1]

کړه

مور لا څّ چې؟

نړیوال، به درته

دعا وباسي

ساه به په

ساه وباسي

دا د تیندک [2]

۱ : په ځنګ، لرې، ګوښه

۲ : د پښو د نښتلو په نتیجه کې بې توازنی ته ویل کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وطن دی

د ښېتو پلندۍ [۳]

دلته سر

مه وه یاره

ته د ډبرو په

ډغره

د تروا د جنګ

اتله

د مفرغ د عصر

مله

د هکتور د سر

قاتله.

۳ : هغه اوبلنه (جبه زاره) ځمکه ده چې څومره په کې خوزېږي همدومره په کې ښکته ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ثـــار

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړليک

**سرليک** ........................................ **مخ**

**تارينا لوشه** ........................................ ۱

اوچېنى ........................................ ۲

افغانستان ........................................ ٤

خلګنې ........................................ ٥

جوان آنتې ........................................ ۷

امه بجوي آيس ........................................ ۸

وطنس مينۍ ........................................ ۱۰

اى وطنم ........................................ ۱۲

ترانا ........................................ ۱٤

شيميس سنګري ........................................ ۱٦

نونګابهار ........................................ ۱۸

پشه يي مليتس حدي ........................................ ۱۹

ميس نو منګلى ........................................ ۲۱

شونيك بوستړ ........................................ ۲۳

مباركي ديم ........................................ ۲٤

شاعر آيم ........................................ ۲٥

آ اوتيس پولهه ايم ........................................ ۲۷

داين ........................................ ۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library


اما مبارزان ........................................................ ۲۹

پوین........................................................................ ۳۰

وطنس کاړهنکي............................................................ ۳۱

نامېدی مسلمان ........................................................ ۳۲

اما وطن........................................................................ ۳۳

ناتو آنتی ........................................................................ ۳٤

کیس استه اشیدي شونیك شن.............................................. ۳۵

انقلبس باړ وانتی ........................................................ ۳۷

مینا احسسم.............................................................. ۳۸

پشه يي جب.............................................................. ۳۹

جبس خذمتي ........................................................ ٤۰

شریم او وطن ........................................................ ٤۱

اما دوستین................................................................ ٤۲

وطن........................................................................ ٤۳

پشه يي ملیت ........................................................ ٤۵

بوجوې جب ........................................................ ٤۷

شهید ................................................................ ٤۸

ارمنم........................................................................ ٤۹

ویی آیام ........................................................ ۵۱

تومتیدي اوړه چی ........................................................ ۵۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويې ويام........................................................................ ٥٤

اړ شجوى........................................................................ ٥٥

اړيم........................................................................ ٥٧

ورچيس لشكيى ........................................................................ ٥٨

خول نه اوړيان........................................................................ ٦٠

اوړا........................................................................ ٦٣

اى بوجوى جبيس شاعري كو ايړګا ........................................................................ ٦٤

سرباز آم........................................................................ ٦٩

**اوړا پرنګې** ........................................................................ ٧٨

افغانستان ........................................................................ ٨٥

اوســـنې........................................................................ ٨٨

ګـــه: ........................................................................ ٩٤

مـــادا........................................................................ ٩٦

اوړا........................................................................ ٩٩

انشيتان........................................................................ ١٠١

وطن ميني ليلام اس........................................................................ ١٠٥

نونګاكليس مباركيه........................................................................ ١٠٧

پرنګې ........................................................................ ١٠٩

نويك مارينس........................................................................ ١١١

(c) ketabton.com: The Digital Library

هندوکش دمن کوچه ........................................ ۱۱۳
عزام طبعي........................................ ۱۱۷
وطــــــن........................................ ۱۱۹
**سپینې وینې** ........................................ ۱۳۵
نوی انداز، نوې خبرې........................................ ۱۳۶
په کوم ویاړ؟! ........................................ ۱٤٦
سپینې وینې په سپینو ټکو کې ........................................ ۱۵۰
د الحاج محمد حسن حسام کتاب ته........................................ ۱۵٦
یوه لنډه کتنه........................................ ۱۵٦
د ویناوال څو لنډې خبرې........................................ ۱٦۱
په لومړي لیك کې ........................................ ۱٦۱
د ویناوال څو لنډې خبرې........................................ ۱٦۲
په یو پیغام او یو لیك کې........................................ ۱٦۲
مناجات........................................ ۱٦۳
نن بیا؟!........................................ ۱٦۵
توبه! ........................................ ۱٦۷
ګرمانه[۱]........................................ ۱٦۸
تشې شپلې........................................ ۱۷۰
وبال ........................................ ۱۷۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

شل[1] نیلي ........................................ ۱۷٤
تالان[1] ........................................ ۱۷۷
انځورګره یاره ........................................ ۱۸۲
شپو ته شملې وهل ........................................ ۱۸٤
ګوته په خوله! ........................................ ۱۸٦
سنبال! ........................................ ۱۸۹
تلك! ........................................ ۱۹۱
دا خو! ........................................ ۱۹٤
بقا او که پنا؟! ........................................ ۱۹٦
ځربول! ........................................ ۱۹۹
د ښامتا سالو!! ........................................ ۲۰۱
د زورور اوبه... ........................................ ۲۰۵
زموږ ویره؟! ........................................ ۲۰۷
بې وباله! ........................................ ۲۰۹
د وینو سوداګر ........................................ ۲۱۱
جلابان!! ........................................ ۲۱۳
زموږ مخې ته؟! ........................................ ۲۱۵
ګودال ........................................ ۲۱۷
امن ........................................ ۲۲۰
مشوره ........................................ ۲۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

جوارګره یاره ........................................................................ ۲۲۵
پاړوګره یاره ........................................................................ ۲۲۷
زما بډګره[۱] یاره........................................................................ ۲۳۱
لړلې چړې ........................................................................ ۲۳٤
د قربانۍ ګډوری ........................................................................ ۲۳۵
سپینې وینې........................................................................ ۲۳۹
مباح! ........................................................................ ۲٤۱
زموږ د کلي ملك........................................................................ ۲٤۳
د ملکۍ تیږه[۱]........................................................................ ۲٤٦
ګوراؤ[۱] ........................................................................ ۲٤۹
**اشیل** ........................................................................ ۲۵٤
دا منظومه........................................................................ ۲۵۵
د اشیل یاد........................................................................ ۲۵۷
څو لنډې خبرې ........................................................................ ۲۵۹
اشیله[۱] ........................................................................ ۲٦۲
**څـــار** ........................................................................ ۳۰۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحریك یادښت

د افغانستان ملي تحریك د (۱۳۹۳ ل) کال په پیل کې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه کړې وه چې د دې کال په بهیر کې به (شل عنوانونه) بېلا بېل دیني، علمي، ادبي او ټولنیز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې کوي. ملي تحریك دا ژمنه د یاد کال د کب پر (۲۸)مه نېټه پوره او د یوې پرتمینې غونډې په ترڅ کې یې شل عنوانونه علمي اثار هېوادوالو ته وړاندې کړل. ملي تحریك په یاده غونډه کې ژمنه وکړه چې د (۱۳۹۴ ل) کال په بهیر کې به انشاء الله د خدای (ج) په نصرت ټول ټال سل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې کوي. طبیعي خبره ده چې دا اسانه کار نه دی، ډېر زیات زیار او زحمت ته اړتیا لري، خو ملي تحریك ټینګ هوډ کړی چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملی کوي. دا اثر چې ستاسو په لاس کې دی د همدې (سل عنوانونو) ژمنه کړو اثارو له جملې څخه دی، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحریك هیله لري چې له دې اثر څخه به زموږ هېوادوال په زړه پورې ګټه پورته کړي. ملي تحریك له ټولو هغو لیکوالو، ژباړونکو، سمونچارو، مالي او معنوي مرستندویانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثارو د چاپ په دې ټول بهیر کې یې یو بل سره مرسته او ملګرتیا کړې او دا فرهنګي بهیر یې بریالی کړی، د زړه له کومې مننه کوي او کور ودانی ورته وایي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هیله

د افغانستان ملي تحریك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د الحاج محمد حسن حسام
# منظوم کلیات

۱۳۹۴ل کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

# کتاب پېژندنه:


د کتاب نوم: د محمد حسن حسام منظوم کلیات

لیکـــوال: الحاج محمد حسن حسام

خپرونـدی: د افغانستان ملي تحریك، فرهنگي څانگه

وېـبپـاڼـه: www.melitahrik.com

کمپوز/ډیزاین: ضیاء ساپی

پښتۍ ډیزاین: فیاض حمید

چـاپشمېـر: ۱۰۰۰ ټوکه

چـاپـکـال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحریك د خپرونو لړ: (۱۰۲)


یادونه: د چاپ حقوق له ملي تحریک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسولیت لیکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډیوه

دا ډیوه په لاس کې واخله
پام چې مړه درنه باد نه کړي
د هېواد تیاره کونجونه پرې رڼې کړه
لټوه په کې د یو انسان دوه څلي
قدمونه دې ښه ټینګ او
په احتیاط ږده.
هغه توره ځمکه خوای[۱]
خویوي د پښو تلي
ته په مخ ځه خیر که:
زه درنه شوم پاتې
پروا نه کړي!
زه او ته و
د یو مکتب ملګري

(c) ketabton.com: The Digital Library



شمع مړه کړي،

شیشه ماته

د پولادو په ورغوو

بیا لټوي په توره شپه

دا عجب شانته ولس دی!!

بیا لټوي په توره شپه

تورو کودنو کې

مخونه

پوچ ککرې

هر ځه تېر کړي په

لوی کومو

د دوزخ خېټې ته یې

واچي

لا پرې ماړه نه وي

بیا هم غواړي نور پڅري

نه پوهېږم؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د کوم فخر سمبول

او د کوم وخت؟؟

دروغجن دي

چې خبرې شي د لافو

بیا اسمان په توفو ولي

هر کار چې کړي خراب

نو بیا په لوی ځښتن یې

واړي

صفتونه د ښه کار

او د سمون چارې یې ځان

پورې تړلي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# زمانه

زمانه هېڅکله
د چا په خوښه
تګ نه کوي.
نران هغه دي
چې:
د وخت سره په تګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدم

په شمار واخلي

زمانه اوس

د پرې خبرې

قبلولې نه شي.

پوهان هغه دي

چې

د کار کالم

په شمار واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د وینو جامې

دلته د وینو جامې
مینزې[1] په وینو
وینځي
دا د باروتو ښار دی
په لوګو پټ مخونه
پټ یو له بله
ګرځي
دلته د اوښکو څپې
د وینو موج کې لامبي
ځان خوله سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وينځي

دا د زاغانو کور دی

بازان يې وخته مړه دي

هم په مردارو پايي

هم دوی مښوکې

څنډي

دلته کوترې الوتلای

نه شي

بورا د ګل ترخنګ ويلای

نه شي

د توتکيو ځالې!

دوی په ټونګو[1] ورانوي

دا د چړو او سوټو کوڅه ده

لرونه هر چا په خپل ملا کې

ايښي

دلته نودې[2] او تاندې، تاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library



څانګې

له رنګ نه ډکې

وړانګې

د ګلو ټول قسمونه

د ثواب په نوم

له ښېخه ربېي

دا د لېوانو ځنګل

دا د وحشت جزیره

او د خرمستیو انګړ

په کې ویده ښاماران

د ګورګټیو رمې

دلته د سوړو مړې

د پښو نه لنډې یړې

په مغزو روړدې روې

دا د تمساح بچوړي

دا د هر چا پاتوړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



افتخار څه پېژني؟

د امیدونو هوسۍ

دا د ښکلا غرځنۍ

خپلو بچو سره یوځای

ماتوي

د ښاپېرو حرم کې

دیوانو سمڅې په پنجو

وښکلې

دا د سرونو په بورجونو

سواره

د کوزېدلو نه دي

همېش په څو[1] کې ناست

دي

دا د پېرانو د رنجو کڅوې

اوس انسانان د بل

په سترګو مېني

(c) ketabton.com: The Digital Library



د فیل په غوږ کې دا

ویده وګړي

که له نږدې ووینې

د جنتونو حورې

د بل په وینو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# بې باکه

دلته د چا څوك؟!

د ببر سرونو

پرواګير نه دي

د يتيم د اوښکو

چې پلار يې توی کړې

مباح!

دا خپلې سپينې وينې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بل لپاره

په مقدسه جنګ کې[۱]

دلته د کونډو تور پوړني

بې واکه پرېوتل له

تور سرونو

او هر چا ښکته کړل

بې باکه!

په سرو خومونو

خو رنګ يې رانه وړ

له بدبختونو

د شملو هسکې څوکې

د څادر ټولې پيسکې[۱]

هر چا خرڅ کړي دي

په نيمه بيه

په سوقه[۲] سپينو ږيرو

د چا په ارمان؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپل ځان په ګټه

او د بل په تاوان

دلته د چا څوك

پوروړي نه دي

او كه دي نو!

څه پرې؟!

دا د سرونو په بورجونو[۱]

سواره

د كوزېدلو نه دي

او د

پرمخ تللو نه دي

ثواب، عذاب، اجر

او مزد

دوى اخرت كې ويشي

دلته چا خپل مسوليت

ونه مانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځان مبري[۲] او بل څوك

ګرم ګڼي تل

دوه ګوتې تورې کاندي

بيا په بل پورې کاندي

بيا په بل پورې کاندي

د ګناهونو رژېدل

د بل په مرګ کې ويني

لاڅو کې ډېر مېړني

عمل مو هېڅ که ضرب دی

هېڅ چې په هېڅ کې ضرب شي

بيا هم هېڅ راوځي.

وخت خو همدومره و چې:

او ما ويلو تېر شو

دا کوم مرض دی خدايه!

له موږه ولې نه ځي؟

موږ سره مله دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حتماً!

دغه څو بد پايوځي[۱]

کاږه واګه روان دي

به درسته لاره نه ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# کوتې

د خره کوتې چې:
ورکوټې او تنکی وي.
ډېر ښکلي او ترندی[1] وي
هم وي ځغلنده، هم
ګړندی[2] وي.
مور چې روي لاتندې وي
څوك يې شونډې ښکلوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ځوك يې ستايي

بوخ غوړونه

ځوك يې رنګ

خاوند يې نازوي

بهاڼ يې بولي

په ورستو او تورو ختو

شانتي لښنګي تړي

ورته په درنګ

کوټې د القابو او

بهاڼ د صفتونو

چې غټېږي

هر ورځ ټکه پرې ولېږي

د کليوالو له انظارو

هم شي پيکه هم شي بدرنګ

که ذات يې بد ذات وي

اول کچل شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا نو ناچل شي

څه موده وروسته

دا خوار نه خر شي

نه قچر شي

نه آس شي

او نه کورنګ.[۱]

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د کونړ سیند ته

ای د پیړیو خونړیه

کونړیه

روانه لارویه

راته وایه!

راته وایه!

چې:

دا ستا د تندي لیك دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



یادې خوی[1] دی

پرې پوه نه یم؟

چې:

یاغي یې

له ادمه[1]

تر دې دمه[2]

بهیږي

او بهیږي

تشیږي

او ډکیږي

ځې.

روان یې

اوړي، ژمی

سرګردان یې

خلاصېدل دې هډو[3]

نه شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندېدل دې هڅو

نه شته

وچېدل دې هڅو

نه شته

ودرېدل دې هڅو

نه شته

ځې.

روان يې لارويه

سکون دمه دې نه شته

شاته نه ګورې خود سره لېونيه

کونړيه!

د څپو په هريوول[1]

او هر يو ځل کې

د سينې په ساړه تل کې

لېږدوې

دا پخواني

(c) ketabton.com: The Digital Library



((راسا))[۲] يادونه

ستا په اوبو کې اغګل[۳]

شوي.

صفتونه

غيبتونه

فيضونه

تاوانونه

ښه او بدشانته خويونه

ته د سيندونو يې

سرخانه

دا ټول موږه منلي

او منو به ليونيه!

خونړيه!

کونړيه!

دا يو سوال مو قبول کړه

هلمند ونيسه په غېږ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپرغۍ وڅنډه له ځانه

د مرغاب مرغان به ستا

په څنډو ګرځي

کوکچه مخکې ځغلوه زار شم

له تانه

لکه لعل د ښامار خوله کې

یوه لمبه د شونټۍ[1] واخله

جاذبه له غولۍ[2] واخله

واهمه له ولۍ واخله

د هسپاني د نڅاګرو[1]

د شین کمیس ګردابه

لارویه!

د دوابه![2]

ډېر موده کېږي

هلته څو بدسرتنبوو

د جهان سودا پوځۍ[3] ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



بازارونه يې

دي پرانستي

خرڅوي په کې د سرو

اوبو څو څاڅکي

او د ربيرې دوه تارونه

زموږه د وريښمو کاروانونه

يې بې ځايه و درولي

معاويزه کې راته لېږي

دوچغنو[۴] تور شالونه

شابه!

ځان ورته تکړه کړه

پرمخ تلل ورته ورزده کړه

خونړيه!

کونړيه!

خود سره لېونيه!

هر يو ول دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کرېشمه[۱] د ښېښتنې دی

شور او شر د هر یو

چړ دې د نخرې دی

کونړیه!

دې کې ستا قصور به نه وي

خیر که موږ له تندې مړه یو

پروا نه کړې.

دا زموږ بدقسمتي ده

د سېلابونه انډیواله!

توفانونه دې په موږه

لوروليـ[۲]

خفه نه شې تا اوبه د حیات

نورو ته ښښلي

د نقرې ښکلی سالاره!

ستا له سپینو[۱] نه اوږی[۲]

مې جوړه نه کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نه مې جوړ کړل

چمکلي[۳] د وطن د

مور لمنې

او سینې ته

نه د مور په

سپینو متهو مې

وښی[۴] ولید تراوسه

نه مې ستا نیل(۵) تصفیه کړل

نه غمي مې د یاقوتو

او مرجانو درنه وښکل

نه مې ستا په رنجو

توري کړې

د خپلې لیلا سترګې

نه مې ستا په اوبو کر(۱)

سپینه بنبه

کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د مور پیوند

پرتوګ مې کړم

پرې نوی

نه کونجکې[۲] مې کړې

جوړې

ستا له شنو صدفو

د خپل ماشوم پښې ته

نه مې ستا په شوړو[۳]

تود خپل نغری کړ

نه مې ستا په برېښنا

لیك ولیکه

شپې ته

نه مې ستا په اوبو

خور[۱] شوه

دا خاره تبجنه[۲] ځمکه

په کاسه کې مې ځای نه کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



په وار وار درنه

ښښنه غواړم ځکه

کونړیه!

خونړیه!

روانه لارویه!

ته زموږه د ټولنې

یو ژوندی

شانته مثال یې

زورور او

کمزور

تانه معلومېږي

نو!

ګاڼه او وسله

ستا ډېرې اوبه شي

غاور شي

مغرور شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مفرور شي

اخر!

ظلم ته شا وركړي

ډډ دې نرم

زړه دې كلك شي

ياغي شي

ځمكې ويسې

هوجرې ويسې

هر څه واخلې

پوپناه كړي

د غريبو ولسونو

بيا!

چې كمې دې اوبه شي

كمزوری شي

غريب شي

معصوم شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مظلوم شي

ارام دروميږ

خپل بستر[1] کې

د ډېرې مودې

وروسته

هوش دې راشي

په دې خپل

لېوني سر کې

نه پکار دې وي

چا ځمکه

نه دې چا سره څه

کار وي

ای جانانه!

بغاوت درنه

خپل هېر شي

مستي پاتې شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



له تانه

ژبه نرمه کړې

پسته کړې

| ۱۴ | ایرهیک | غوښتنه | |
| ۱۵ | لړو | راتهول | |
| ۱۶ | مسکېدې | په تندې | |
| ۱۷ | دنه | وخت | |
| ۱۸ | کودن | کوم وخت | |
| ۱۹ | اخول | همدارنګه | |
| ۲۰ | وري | نور | |
| ۲۱ | چویه | تهولو | |
| ۲۲ | البه | اوس | |
| ۲۳ | جامن | کیبیدو | |
| ۲۴ | ایم | واوره | |
| ۲۵ | ورګ | اوبه | |
| ۲۶ | ایم ورګ | د واورې اوبه | |
| ۲۷ | ګېران | ګران | |
| ۲۸ | دروا | پاتې | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۹ | دیوان | ورکړی مو دی | |
| ۳۰ | شرېن | سرونه مو | |
| ۳۱ | شرئ | ورباندې | |
| ۳۲ | پوړا | مخکې | |
| ۳۳ | جپوا | جوړ | |
| ۳۴ | دړوا | وران | |
| ۳۵ | سودرا | ښایسته | |
| ۳۶ | ادرا | بدرنګ | |
| ۳۷ | اما | زمونږ | |
| ۳۸ | ویړېن | ځانونه | |
| ۳۹ | جانېن | ارواحګانې | |
| ۴۰ | میخې | همدغه | |
| ۴۱ | دوان | لوګی | |
| ۴۲ | پوه | خاوره | |
| ۴۳ | منجه | منځ | |
| ۴۴ | چندوا | پروت | |
| ۴۵ | لیوان | مندلی | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۴۶ | شروړې | اوچت سر | |
| ۴۷ | ننګا | ساتنه | |
| ۴۸ | واونینا | پیروي | |
| ۴۹ | تې | هغوی | |
| ۵۰ | شروایکالنا | شراچوونکي | |
| ۵۱ | پندلوړیک | لارښوونه | |
| ۵۲ | بت | اوس | |
| ۵۳ | جیوان | اینبودی | |
| ۵۴ | کچه | غبږ | |
| ۵۵ | مریک | ویل | |
| ۵۶ | کوتي | کوم | |
| ۵۷ | میني | زما | |
| ۵۸ | آي | مور | |
| ۵۹ | تاتي | پلار | |
| ۶۰ | استه نامېدي | لاس په نامه | |
| ۶۱ | تستوي | ولاړ | |
| ۶۲ | چوئ | تول | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۶۳ | داردي | مطلب يې د هند<br>داردي ژبو څخه دی | |
| ۶۴ | شن | شته | |
| ۶۵ | دموي | مړه، بډای | |
| ۶۶ | چېکه، چوئي | تول | |
| ۶۷ | دار | غر | |
| ۶۸ | ګله | خوړ | |
| ۶۹ | چندوي | پراته | |
| ۷۰ | ډکوي | شړل شوې | |
| ۷۱ | ګه | چې | |
| ۷۲ | تيس | د هغې | |
| ۷۳ | ډشتی یا جشتی | مشر | |
| ۷۴ | نستستا | د پزې | |
| ۷۵ | موټا | لنډ | |
| ۷۶ | استيا | لاس يې | |
| ۷۷ | هنوي | وهلي | |
| ۷۸ | جن | تن، شخصي | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۷۹ | ببني | ویرول، ترهګر | |
| ۸۰ | بتیلا | بتان | |
| ۸۱ | آینچ | وو | |
| ۸۲ | مې | دوی | |
| ۸۳ | وریو | نورو | |
| ۸۴ | مولوي | پوه | |
| ۸۵ | اوړا | پرېږده | |
| ۸۶ | ګوراوئ | ناوه | |
| ۸۷ | شیم | سوله او صفا | |
| ۸۸ | چنچا | مرغۍ | |
| ۸۹ | چلېک | سپین | |
| ۹۰ | دیم | ورکوم | |
| ۹۱ | ګڼ | لوی | |
| ۹۲ | چارویاوایی | ۱۳۸۱ | |
| ۹۳ | دیچېن | ورکړیدي | |
| ۹۴ | تې | هغوی | |
| ۹۵ | پرنګې | واولوځي | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۹۶ | اېګيري | يووالي | |
| ۹۷ | لېونګيري | وروروالي | |
| ۹۸ | دارګا | لري بې | |
| ۹۹ | نويک | ورک | |
| ۱۰۰ | مارني | مرګ | |
| ۱۰۱ | شاميک | تور | |
| ۱۰۲ | اوچې | سيوری يې | |
| ۱۰۳ | لوش | رڼا | |
| ۱۰۴ | تارا | ستوری | |
| ۱۰۵ | وېل | شپه | |
| ۱۰۶ | اليک | ختل | |
| ۱۰۷ | جتوي | سېزل شوی | |
| ۱۰۸ | تاريک | ليدل | |
| ۱۰۹ | دې سال | لس کاله | |
| ۱۱۰ | انچيلای | سترګو | |
| ۱۱۱ | اوشا | شکوڼ؛يو قسم ځناور دی | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۱۲ | کاچین یا کیاچین | کړي و | |
| ۱۱۳ | البه | اوس | |
| ۱۱۴ | لشیک | لیدل | |
| ۱۱۵ | آ | زه | |
| ۱۱۶ | بو | ډېر | |
| ۱۱۷ | اړودا | زړه ور | |
| ۱۱۸ | انو | هسې | |
| ۱۱۹ | بیم | شم دې | |
| ۱۲۰ | پولهې | زوی دې | |
| ۱۲۱ | وړتان | پرېښودی | |
| ۱۲۲ | لپیکیم | زنګولې یې یم | |
| ۱۲۳ | مګا | وایې | |
| ۱۲۴ | دې | په ده باندې | |
| ۱۲۵ | بدا | شئ | |
| ۱۲۶ | جلدې | زر | |
| ۱۲۷ | کدا | ویې کړئ | |
| ۱۲۸ | اړجمعې | خاطرې | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۲۹ | ددا | وربې کړئ | |
| ۱۳۰ | هنچال | جنګ او جګړه | |
| ۱۳۱ | تستوا | ولا | |
| ۱۳۲ | ککړا | کلک | |
| ۱۳۳ | ممې | ماته | |
| ۱۳۴ | کتهکستا | تنې یې | |
| ۱۳۵ | چریمي | څریکوم یې | |
| ۱۳۶ | نه اوړیمي | نه یې پرېږدم | |
| ۱۳۷ | ډېکیمي | شرم یې | |
| ۱۳۸ | کیو ام، کوام، کیم | کړی مې دی، کوم یې | |
| ۱۳۹ | انشیکم | نیولی مې دی | |
| ۱۴۰ | کوئ | په شان، په څېر مثل | |
| ۱۴۱ | ګوشنګ | کور | |
| ۱۴۲ | پوشیک | شیندل | |
| ۱۴۳ | اوغان | افغان | |
| ۱۴۴ | پولیسي | رسوو یې | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۴۵ | ګېن | ملا ، کمر | |
| ۱۴۶ | ټنګوي | ترلی | |
| ۱۴۷ | اوړيک | پرېښودل | |
| ۱۴۸ | سور | لمر | |
| ۱۴۹ | تپې | تود شي | |
| ۱۵۰ | انچېدې | په سترګو | |
| ۱۵۱ | اچدو | رادې وړي | |
| ۱۵۲ | کراس | د ځمکې کره | |
| ۱۵۳ | هن | شي | |
| ۱۵۴ | انجلې | وخوزېږي | |
| ۱۵۵ | اوتې | هغوی | |
| ۱۵۶ | هنوي | وهل شوي | |
| ۱۵۷ | ابرين | غواړي | |
| ۱۵۸ | اندارا | تورتم | |
| ۱۵۹ | پولې | ورسېږي | |
| ۱۶۰ | شريکو | سرته | |
| ۱۶۱ | ابله | دغه | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۶۲ | کوایړګا | څه غواړي ! | |
| ۱۶۳ | اوتي | وږي | |
| ۱۶۴ | تومړي | بربنډ | |
| ۱۶۵ | لوي | مړه | |
| ۱۶۶ | نه تن | نه دې وي | |
| ۱۶۷ | توني | تږي | |
| ۱۶۸ | جوتوي | سوزېدلي | |
| ۱۶۹ | دندۍ | غاښونه | |
| ۱۷۰ | ویروي | ژړېدلي | |
| ۱۷۱ | اوردا | پاڅېږئ | |
| ۱۷۲ | اوړدا | پرېږدئ | |
| ۱۷۳ | ګوردا | وایې خلئ | |
| ۱۷۴ | چالدرا | پرانزئ | |
| ۱۷۵ | ویتهکا | تېرېږي | |
| ۱۷۶ | ګېر | بیا | |
| ۱۷۷ | ایګا | راځي | |
| ۱۷۸ | کاړهنګا | نارې، سورې په غوږ | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| | | وهل، غوړ ته رسول | |
| ۱۷۹ | چیلا | جامې | |
| ۱۸۰ | لام | کلی | |
| ۱۸۱ | ګوړا | آس | |
| ۱۸۲ | اوبریک | منډې | |
| ۱۸۳ | وتښن | سترې کېږي | |
| ۱۸۴ | پرتښن | اړول کېږي | |
| ۱۸۵ | ختښن یا کتښن | کشت او کر | |
| ۱۸۶ | کاڼي | شونتې، درګیران | |
| ۱۸۷ | شچیک | لږول، در دادن | |
| ۱۸۸ | دومیدي | یه لوږي | |
| ۱۸۹ | دورستن | مخونه مو | |
| ۱۹۰ | یا یس | د اوربشو ډوډۍ یا اوربشینه | |
| ۱۹۱ | اوستن | خورو یې | |
| ۱۹۲ | ایسي | ښکاره کوو یې | |
| ۱۹۳ | دوړوي | وران او ویجاړ شوی | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۹۴ | سیواد یا سواد | لوستی | |
| ۱۹۵ | اپرکېدې | په اوښکو | |
| ۱۹۶ | اسک | ایره | |
| ۱۹۷ | پېندا | و بې پېژنې | |
| ۱۹۸ | میچ | بد | |
| ۱۹۹ | وړ | پورته | |
| ۲۰۰ | اکوړ | ښکته | |
| ۲۰۱ | بېړوبې | کباب شوی | |
| ۲۰۲ | لوړوې | ملاست، غورزېدلی | |
| ۲۰۳ | توې | تاته | |
| ۲۰۴ | توپانګ، توپک | ټوپک | |
| ۲۰۵ | بېلیک | غولول | |
| ۲۰۶ | کوټا | ناچل، تقلب | |
| ۲۰۷ | سست | اوه | |
| ۲۰۸ | کاو ویا | خوسوه | |
| ۲۰۹ | وېټېکې | تېردې کړل | |
| ۲۱۰ | ورې | پاخېږه | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۱۱ | پایستې | پښنه دې | |
| ۲۱۲ | جیا | کېده | |
| ۲۱۳ | آین | دي | |
| ۲۱۴ | وو‌ناوی، واني | رواجونه تکرارول | |
| ۲۱۵ | پوړکوني | پخوانی | |
| ۲۱۶ | دیوا | ورکړی | |
| ۲۱۷ | منډیک | ماتول | |
| ۲۱۸ | لګي | په اوږدو کې | |
| ۲۱۹ | کټیک | پرېکول، غوڅول | |
| ۲۲۰ | پرجوا | پوه | |
| ۲۲۱ | لم، لوا | ومرم، مړ | |
| ۲۲۲ | لېنه | قطار | |
| ۲۲۳ | پیم | غوښنه مې | |
| ۲۲۴ | دکا | وڅنډل شي | |
| ۲۲۵ | انتیم | هډوکي مې | |
| ۲۲۶ | ګلا | سوری | |
| ۲۲۷ | اندیی | ړندې | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۲۸ | کیما | کوم یې | |
| ۲۲۹ | بې | شي دې | |
| ۲۳۰ | متیان | نه دې وي | |
| ۲۳۱ | شاړن | روان دې شي | |
| ۲۳۲ | ډکیا | ویې شړه | |
| ۲۳۳ | ټکیا | وي څنډه | |
| ۲۳۴ | ویسته اي منګل | یوویشتم | |
| ۲۳۵ | لوسیا | پرانزه | |
| ۲۳۶ | چالا | بېرته یې کړه | |
| ۲۳۷ | جنده | مار | |
| ۲۳۸ | لشوا | لیدل شوی | |
| ۲۳۹ | ایړیم | غواړم یې | |
| ۲۴۰ | لنټېن | جوړوي | |
| ۲۴۱ | کوچه | ماکې، خیټه کې | |
| ۲۴۲ | الینا | شین | |
| ۲۴۳ | شونیک | سور | |
| ۲۴۴ | لپېګا | زانګي | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۴۵ | پولګا | رسېږي | |
| ۲۴۶ | چوچو | تی، پستان | |
| ۲۴۷ | تپوي | توده | |
| ۲۴۸ | لېکن | بیا مو موند | |
| ۲۴۹ | ګې | سندره | |
| ۲۵۰ | سسوي | وچ، وچې | |
| ۲۵۱ | پړک | لوستل | |
| ۲۵۲ | پلېتان | رسولی | |
| ۲۵۳ | نادا | یوسئ | |
| ۲۵۴ | لوسېدا | ببرته یې کړئ | |
| ۲۵۵ | بئار | پسرلی | |
| ۲۵۶ | اش | وینه | |
| ۲۵۷ | ویچو | اچولي استي | |
| ۲۵۸ | جوني | ځوان | |
| ۲۵۹ | دُر | ور، دروازه | |
| ۲۶۰ | الینچ | وختل | |
| ۲۶۱ | لهجوا | مرور | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۶۲ | پتهای | پانړې | |
| ۲۶۳ | موچتینج | تښتېدلي دي | |
| ۲۶۴ | بیرو بو | ډېر | |
| ۲۶۵ | نفیۍ | ګټې، فایدې | |
| ۲۶۶ | منجای | له منځه | |
| ۲۶۷ | جل | زر، چټک، بیړه | |
| ۲۶۸ | ایلو | دغه | |
| ۲۶۹ | بیدن | نشي، نه یې شي کولی | |
| ۲۷۰ | جهني | جهان، نړۍ | |
| ۲۷۱ | تما | یمه | |
| ۲۷۲ | داین | پور، قرض | |
| ۲۷۳ | ختن | د شاعر مطلب و چین د ختن نه دی | |
| ۲۷۴ | عدن | د شاعر مطلب د عدن د ښکلي ښار نه دی | |
| ۲۷۵ | پلتن | پوځونه | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۷۶ | شرلاوني | سرخوړی | |
| ۲۷۷ | اتن | د مقدوني پخوانی د علم او فرهنګ مشهور ښار | |
| ۲۷۸ | شیرمردنا | زمریالیو، د زمریو | |
| ۲۷۹ | چادر | لونګۍ | |
| ۲۸۰ | باتورنا | د باتورانو | |
| ۲۸۱ | ګوشنګم | کورمې | |
| ۲۸۲ | دیګا | ورکوي | |
| ۲۸۳ | ننګرهر | د ننګرهار نه مطلب دی | |
| ۲۸۴ | انشیتا | نیولي | |
| ۲۸۵ | بدخشن | د بدخشان نه مطلب دی | |
| ۲۸۶ | ویتهتان | تبر شوی | |
| ۲۸۷ | جوزجن | دجوزجان نه مطلب دی | |
| ۲۸۸ | لغمن | د لغمان نه مطلب دی | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۸۹ | جا | پورې | |
| ۲۹۰ | ارګیرای | هر طرفته | |
| ۲۹۱ | چوټینیې | خلاصون | |
| ۲۹۲ | جغا | تاج | |
| ۲۹۳ | اورني | پاڅون | |
| ۲۹۴ | ابلي | وریځ | |
| ۲۹۵ | اویای | اولادونه | |
| ۲۹۶ | ډمټا | پړی | |
| ۲۹۷ | درکړې | پکار دې وي | |
| ۲۹۸ | بیې | ښه، خوب | |
| ۲۹۹ | ارمني | ارمان مې یې | |
| ۳۰۰ | ممې | ماته | |
| ۳۰۱ | سوتنم | د لیکوال مطلب د دره نورو سوتن کلی دی | |
| ۳۰۲ | پالي | د تلې یو تاروزو | |
| ۳۰۳ | ترازا | تله | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳۰۴ | پتنم | نورګل پتڼ کلی | |
| ۳۰۵ | اریمي | اورم | |
| ۳۰۶ | اړه | ذړه | |
| ۳۰۷ | بخچه | بخشش | |
| ۳۰۸ | ازنا | خندا | |
| ۳۰۹ | پیرېک | زبیبناک | |
| ۳۱۰ | ویشین | خپور | |
| ۳۱۱ | انګري | اور | |
| ۳۱۲ | خفتاني | خفګان | |
| ۳۱۳ | اړتپوی | په ګرم زړه | |
| ۳۱۴ | لاړ | دروغ | |
| ۳۱۵ | څه | هغه | |
| ۳۱۶ | پرجکس | د پوهې | |
| ۳۱۷ | شوعري | شعار | |
| ۳۱۸ | دوکنا | پرونی | |
| ۳۱۹ | برین | زاړه | |
| ۳۲۰ | لړین | ښکاري | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳۲۱ | کوناس | د پخواني، د زاړه | |
| ۳۲۲ | موخانا | می خانه، می کده | |
| ۳۲۳ | کوټا | زنګون | |
| ۳۲۴ | چار | کار | |
| ۳۲۵ | لهام | کار | |
| ۳۲۶ | پشکین | ورپسې | |
| ۳۲۷ | ګار | کورکول | |
| ۳۲۸ | ګناد | شماره | |
| ۳۲۹ | شتل | په چاریکارو ولایت کې یو ځای | |
| ۳۳۰ | ګلبهار | په چاریکارو ولایت کې یو ځای | |
| ۳۳۱ | سرالک | لمرخاته | |
| ۳۳۲ | پېچ درکنای | د پېچ د درې پورې | |
| ۳۳۳ | کونړ | کنړ | |
| ۳۳۴ | شیته | شته | |
| ۳۳۵ | کیل خېوه | د ننګرهار مربوطات | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳۳۶ | ګوریېک | د خېوې مربوطه یو ځای | |
| ۳۳۷ | تړبیوي | کلک ولاړ | |
| ۳۳۸ | کوشې | څه دي | |
| ۳۳۹ | وتا | جام | |
| ۳۴۰ | پورن بګام | ډکېږي | |
| ۳۴۱ | بوستړ | شونډې | |
| ۳۴۲ | نیسا | نشته دي | |
| ۳۴۳ | چالن | ببېرته کېدل | |
| ۳۴۴ | تنسلیک | غوټۍ | |
| ۳۴۵ | جلکن بګا | ځلېږي | |
| ۳۴۶ | نووا | ورک | |
| ۳۴۷ | بړوا | وریت، کباب شوی | |
| ۳۴۸ | انجه لیک | خوځېدل | |
| ۳۴۹ | کریک | کول | |
| ۳۵۰ | دیګانیس | د دیګانو یا پشه یې ژبې شاعر | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳۵۱ | لهمه ګارنې | کارګرانو ته | |
| ۳۵۲ | دهکاننی | دهقانانو ته | |
| ۳۵۳ | اوتیس | د هغه | |
| ۳۵۴ | پولهه | زوی | |
| ۳۵۵ | شنه لیکېن | لمبولی دی | |
| ۳۵۶ | زمانا | په هغه وخت او زمانه کې | |
| ۳۵۷ | شاړیکن | روان کړی مو دی | |
| ۳۵۸ | دوسس | د ورځې | |
| ۳۵۹ | کویې | په څه | |
| ۳۶۰ | ګورګنا | د شاعر مطلب د انګرېزانو نه دی | |
| ۳۶۱ | تارن | وګوری | |
| ۳۶۲ | بین | وبربړي | |
| ۳۶۳ | کوړي | مړی، ګوله، لقمه | |
| ۳۶۴ | القه | تالو، مری | |
| ۳۶۵ | لړوا | ملاست، په ګونډو شوی | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳۶۶ | استه ایګا | لاس ته راځي | |
| ۳۶۷ | کنوي | ویستلې | |
| ۳۶۸ | پوین | زموږ خاوره | |
| ۳۶۹ | ختهنایاکتهنا | کشت او کر | |
| ۳۷۰ | دورپټ | مخ پټې | |
| ۳۷۱ | تخول | همغسې | |
| ۳۷۲ | چندوي | پراته | |
| ۳۷۳ | نندي | سیندونه | |
| ۳۷۴ | کتها | ویالې، نهرونه | |
| ۳۷۵ | چیریس | د شیدو | |
| ۳۷۶ | ونتهه | حیصه، برخه، ویش | |
| ۳۷۷ | شام | مانبام | |
| ۳۷۸ | وایمان | وایې چوو | |
| ۳۷۹ | ګلا | سوری | |
| ۳۸۰ | ایمبدی | په وارو | |
| ۳۸۱ | داریلا | غرونه | |
| ۳۸۲ | مریخس | مطلب د ستوري نه | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| | | دی | |
| ۳۸۳ | دنه هونا | پخوانی | |
| ۳۸۴ | افتخر دې | په افتخار سره | |
| ۳۸۵ | ایکټو | یو ځای | |
| ۳۸۶ | دیوا | ورکړی | |
| ۳۸۷ | تیسي جنه | همغه کسانو | |
| ۳۸۸ | آییس | د مور | |
| ۳۸۹ | اي ډیلستې | یوه لوټه دې | |
| ۳۹۰ | کنجا کټي | بړستن یې | |
| ۳۹۱ | چوټوي | غونډه شوې | |
| ۳۹۲ | چماري | اوسپنیز | |
| ۳۹۳ | شرې ننګوي | سردې ښکته شوی نه دی | |
| ۳۹۴ | سبوئیدې | په شکو | |
| ۳۹۵ | چلوټۍ | فریب، چلول | |
| ۳۹۶ | ډیل، واړ | لوټه او ګټه | |
| ۳۹۷ | چپاټ | څپېړه | |
| ۳۹۸ | ټکي ورکې | څاڅکی اوبه دې | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۳۹۹ | مرین بگا | ویل کیږي | |
| ۴۰۰ | بوا | شوی | |
| ۴۰۱ | ګونې | ګونا ، قصور | |
| ۴۰۲ | کګا | کوی یي | |
| ۴۰۳ | ګڼ | لوئ | |
| ۴۰۴ | موتې | ونې | |
| ۴۰۵ | ورونتې | کانې | |
| ۴۰۶ | کریتان | کړی و | |
| ۴۰۷ | آش | وینه | |
| ۴۰۸ | جوه نې | تنکی ځوان | |
| ۴۰۹ | ورګه هویې | اب و هوا یې | |
| ۴۱۰ | لهدې | هلته | |
| ۴۱۱ | بوتا | بوتې | |
| ۴۱۲ | لېنه | لاندې | |
| ۴۱۳ | پلا | سره، ورسره | |
| ۴۱۴ | کتالیا | جنګې، نجوته | |
| ۴۱۵ | تې | ویلوداس | |
| ۴۱۶ | ویلودواس | اي | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۴۱۷ | اي | وتلی | |
| ۴۱۸ | نیوا | له منځه تللی | |
| ۴۱۹ | نشوا | اوږد | |
| ۴۲۰ | لګا | وېښتان | |
| ۴۲۱ | چالې | اوچت، جګ، لوړ | |
| ۴۲۲ | اورا | ډک | |
| ۴۲۳ | پوروي | چېرته یوه مانا لري | |
| ۴۲۴ | چوبل، کېنا | رغېږي پرې | |
| ۴۲۵ | بیي بي | راغلی | |
| ۴۲۶ | ایوا | تال | |
| ۴۲۷ | لپوڼا | نوکتې، لږ شانته | |
| ۴۲۸ | کمکوئ | ورک | |
| ۴۲۹ | نووا | تودوخې | |
| ۴۳۰ | تپیک | ساده | |
| ۴۳۱ | سادي | سوړ | |
| ۴۳۲ | شدال | ښکاره کول | |
| ۴۳۳ | لړوي | څه وکړم | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۴۳۴ | کوکدم | نور پای، زینه | |
| ۴۳۵ | شوړي | ومې خېژوله لوړو | |
| ۴۳۶ | الیچم | پوړیو ته | |
| ۴۳۷ | ایرمو | غوزان، چارمغز | |
| ۴۳۸ | ګین | ملا | |
| ۴۳۹ | چوئ | تهول | |
| ۴۴۰ | ایچین | خوړلي يې دي | |
| ۴۴۱ | امه شره | په موږ | |
| ۴۴۲ | ونتېچین | ویشلي يې دي | |
| ۴۴۳ | چنتهي کوئ | د ماشومانو په څېر | |
| ۴۴۴ | کیوا، کوا | کړی يې دی | |
| ۴۴۵ | کنده | اوږه، شانه | |
| ۴۴۶ | دریبکیم | پاتې کړی یم | |
| ۴۴۷ | ودای | ورنه، ورڅخه | |
| ۴۴۸ | منجه ایوا | منځ ته راغلی | |
| ۴۴۹ | چودې | چېرته | |
| ۴۵۰ | بواس | شویدی | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | | |
|---|---|---|---|
| ۴۵۱ | شیلهه | توره | |
| ۴۵۲ | بیان | شي دي | |
| ۴۵۳ | مندیدي | ورمېګ، ګردن | |
| ۴۵۴ | پندیدي | په‌لاره | |
| ۴۵۵ | نندي دي | په سین دي لاهو شي | |
| ۴۵۶ | ګناد | شماره | |
| ۴۵۷ | دورپنا | مخ پانه | |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# یو خوب دوه انځوره

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای دې خیر کړي
هم مې چپه سترګه
رپي
هم خوبونه ګډوډ
وینم
د پرون شپې نیمایي
کې
چې نه بانګ د چرګ
له خولې وت
او نه غږ د سپي
له خولې خوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاینات ټول خوبولي

ځنګېدل په خپل سوچونو

او فکرنو

په درانه خوب د نیسان

ښکالو نه وه د حیوان

او د انسان

خو!

زما د بد نصیبه کوم

حس ویښ و

د غمونو په خوراك تالو مې تریخ و

کله ځان کله جهان، کله

سپوږمۍ سره مې وې

پټې خبرې دوره سر کې

نا ارامه په هر لوټ به

اوښتم په خپل بستر کې

هر اندام مې کړیکې کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



د ډېر درد نه

ټول وجود مې سیخ په

سیخ و

د وختونو دې حالاتو ته

هیښ پېښ و

د اند ېښنو په چاپېرچل کې

د اهاړ ګرمۍ په تل کې

د یلدا د شپې سیلۍ به

شوې رالنګې

پوړ، بوړۍ به ترېنه

جوړې شوې هوا کې

د چورتونو په دنیا کې

د هېواد په هره خوا کې

د ماضي او حال په ژبه

د جنګونو زور زیاتیو

چپاول صحنو مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذهن کې خطور خوړ

فکر تم احساس به مړ شو

تش کالبود رانه شعور اوړ

نه پوهېږم؟

په کوم وخت کې به مې

سترګې وې ورغلې

د خوبونو يو ناپاکه

دنياګۍ ته

دې خود سره

او

بې باکه

او بېواکه

خپلواکۍ ته

خوب کې وايم:

په شرك اوري

په موږ اوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کاسو، کاسو

رااوري

د باروتو باران

اوري.

تالنده، برېښنا

يې

لرزوي او

رژوي

د ځمکې غرونه

له ډېر تاو نه

ايشوي

سمندرونه

خوب کې وايم:

يو ځل بيا مور

رانښکل شوي يو

جګړو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



او

پتنو ته

بې وياړه، بې بنياده

بې ثوابه

کارنامو ته

په بل ځل مو ملا

تړلې

د خپل ملك ورانېدو ته

خوب کې وايم:

د جګړې فرهنګ پېرزو

وه

په مورِ دومره

ورور د ورور په

وينو لامبي

لور د مور سره په

جنګ ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



خور د خور ویښته

وباسي

پلار د زوی ځنې

بېزاره

او زوی

له پلاره

کور په کور

او قوم په قوم

کلي په کلي

پټنې لنګې شوې

لښکر د تورو سپو ورنه

پیدا شو.

زموږ د خوارانو

ټول ویاړونه او

دودونه یې

د یو څو ټکو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځار کړل

ځو، ځو واره

نور يې نه شم سپين

ويلای

يو، يو پټ په

زړه کې شماره

ای د د ېرشو کلو ياره

د اتفاق د مېوې ونې جرړې وچې شوې له

بېخه!

پچې ورکې، برخې ورکې،

حق ناحق شو

جرګې شور شوې

نرخ بې نرخو

لاس کې پرېوت

تړې ماتې

ناغې ماتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تیرې ماتې کړې

تور مخو کاذبانو

د تورونو په پلکونو

ترینه یې جوړې کړې

مېچنې د سرونو

دلوي ددې خوارانو

پرې هڅوکې چې:

رانجه شي

رڼوي پرې ړندې سترګې

د پېړیو

او پرې ګټي اوه جنتونه

ژوي خپل تول ګناوونه

سپینې یې خوی دي

د زیان تورو لښکرو

د بې موره او پلاره افغانانو

د جنګ پړو قربانیانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له خولې يوه چيغه راوځي

تکراروي دغه دوه ټکي

موږ ته يې څه؟

او په موږ څه کې؟

خوب کې وايم

په شرك اوري

په موږ اوري

په كاسو، كاسو

را اوري

د باروتو باران

اوري

تالنده، برېښنا

يې

لرزوي

او رژوي

د ځمکې غرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ډېر تاو نه

ایشوي سمندرونه

سېلابونه د اوبو

خړ، پړ

روان دي

زموږ ښار کې

زموږ کلو په بانډو

او په دیار کې

زېړ له زوو

وبالې ډکې ځې

له وینو.

هر څه وړي

د ځان په څېر

چې:

مخ ته یې راشي

زنده سر او که

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې ساه دي

ماشومان دي که

سپین ږیري

سپین سرې که

نیم ژالې

ټول له مخې په

ژړا او په

دعا دي

د باروتو خړو ختو

مخکې زغلي د یرغه اسپو په څېر

دا د ایرو د توفانونو

لاپوجن یې

دي را اخیستي

نامعلومه لور ته یې

بیایي

پرې ګټي دنیا د زړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د اخرت ښکلي قصرونه

حورې ټولې دوی ته

ناستې دي په طمعه

په تحفه کې ورته وړي

اره سرونه

نه پوهېږم:

چې به کوم اسمان سوری و

ترې راتوی دي دوی ته

دا وړ فرمانونه

سپلابونه دي

د اوښکو یا د وینو

په کوڅو په وستلونو

کروندو په مکتبونو

بازارونو، په باغونو

سپېل ځایونو کې

په شرنده

(c) ketabton.com: The Digital Library



بهیږي.

ددغه سپلابونو

اوبه توري دي

هم سري دي

هم د ختهو یو بلا ده

په کوم لور چې شي

راماتې

لارې باسي

کوڅې باسي

جوړوي لوی تالابونه، ګردابونه

پروا نه ساتي د لوی

او د وړو تمدونونو

اوسنۍ ټکنالوژۍ

خو!

خبر نه ده د خپل زوره

د ژوندون یو هایولا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم دې، دې ده

هم ها، ها ده

کله دلته، کله هلته

هر چا سره

د سر په سر

سودا ده

زړه کې وايم:

دې د زيان تورو لښکرو

د عصيان تورو لښکرو

د سرونو دلالان يې مهار نه کړل

دې د ځمکې دوزخيانو

د جنګ پړو قربانيانو

له خولې

يو چيغه راوځي

تکراروي دغه

دوه ټکي

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورې ته يې څه؟!

او په مورې څه کې؟!

په شرك اوري

په مورې اوري

په کاسو، کاسو

رااوري

د باروتو باران

اوري.

تالنده، برېښنا

يې

لرزوي او

رږوي

د ځمکې غرونه

له ډېر تاو نه

ايشوي

سمندرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوب کې وایم:

یوه عجیبه شان وریاده

کوټه څاڅي

دالان څاڅي

سمه څاڅیي

او غر څاڅي

بیابان څاڅي

سیابان څاڅي

اسمان څاڅي

د هر چا سترګو نه

دارې وهي وینې

هم د هغه په ګران څاڅي

هم ستا په ګریوان

څاڅي

هم زما په ګریوان

څاڅي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د زیان تورې لښکرې

او د عصیان تورې لښکرې

دا د جنګ مړه قربانیان يې

تر مرۍ پورې ډوب

کړي

او له خولې يې يوه

چيغه راوځي.

تکراروي

دغه دوه ټکي

موږ ته يې څه؟!

او په موږ څه کی؟!

خوب کې وايم:

په شړك اوري

په موږ اوري

په کاسو، کاسو

رااوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



د باروتو باران

اوري.

تالنده، بريښنا

يې

لرزوي او

رژوي

د ځمکې غرونه

له ډېر تاو نه

ايشوي

سمندرونه

خوب کې وايم:

ددې ښار په هره څنډه

کشتۍ ځغلي بې

مهاره

بادبانونه يې

تك تور دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



تنابونه يې

تك تور دي

بيرغونه يې

تك تور دي

لنګرونه يې

تك تور دي

بندرونه يې

تك تور دي

د ماښوګانو د جوسو نه يې

معلومېږي

چې:

د وحشت د جزيرې

نه لاهو شوي

د جزاميانو لور ته

درومي

دوی د څېرمې

(c) ketabton.com: The Digital Library



مازو زیان دي

د عمل ډګر ملاماتو

د خبرو، لافو او

پتاقو اتلانو په

کوڅو باندې

ورسم دي

یو، یو نیسي

پوزه، غوږ

ترې پرېکوي

اعداموي

سنګساروي

او

رجموي

دوی ورته خاندي

دا لتهان د زمانې

ورنه راضي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو، څو واره شکر

باسي

دا د زيان تورې لښکرې

او د عصيان تورې لښکرې

په همدې يې قناعت دی

ددغه قانع شوو

تابع شوو

رنځور غاړو

بې همته جزاميانو

دې د جنګ پړو قربانيانو

له خولې

يوه چيغه راوځي

تکراروي

دغه دوه ټکي

موږ ته يې څه؟!

او په موږ څه کی؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوب کې وایم:

په شرك اوري

په موږ اوري

په کاسو، کاسو

رااوري

د باروتو باران

اوري.

تالنده، برېښنا

يې

لرزوي او

رژوي

د ځمکې غرونه

له ډېر تاو نه

ایشوي

سمندرونه

خوب کې وايم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مهراب، کور

اور اخیستی

د ((ززال))، ((رستم)) یادونه

مړه دي

((رودابه))، یرغمل شوې

لور له موره ورکه شوې

زوی له پلاره

خور له ورور نه

لادرك دی

ډېرې خویندې شوې

بې وروره

هر څه ترمې شول تالا

تالاترغیه

د پېکي ګل داسې

بویه

زموږ ښار څو ځل تش شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



له سړیو

د خپل او د پردیو

دا ځل هم انسانان ورك دي

ددې ښار پاسبانان

ورك دي

ځوانان ټول مرچل

ته تللي د

بریو

ګڼې ځان سره څه

راوړي

د خلاصیو

(بدبخت قومونه تل

د خپل ښار دروازې ساتي

په غلو

او په غدیو)

خوب کې وایم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ د ماشومانو

په لوبغاو کې

سپې غاپې

غوټه اچوي په

پټه

کله مات په رڼا ورځ کړي

لوی افغان د بل

په ګټه

یرې ټولې لنګې شوي

خواو شا نړدې

ملکو کې

مدرسو کې

جوماتو کې

په کلیسا او مندرو کې

دا ناوړه

په سپېڅلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مکانو کې

په تیارو او په تورتمو

محلو کې

روې ټولې بلاربې شوي

د مظلوم افغان د وینو په

رودلو

دا بې ننګه د زیان تورې

لښکرې

دا د عصیان تورې

لښکرې

په زړو، زړو ورګوري

چاړه یې ستوني ته رارسي

دوی بیا هم پرې

نقل شندي د ویاړونو

دوست، دښمن

پېژندای نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې د جنګ پړو

قربانیانو

د پېړیو دوه

مخیانو

له خولې یو چیغه

راوځي

تکراروي

دغه دوه ټکي

مور ته یې څه؟!

او په مور څه کی؟!

خوب کې وایم:

په شرك اوري

په مور اوري

په کاسو، کاسو

رااوري

د باروتو باران

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوري.

تالنده، برېښنا

يې

لړزوي او

رژوي

د ځمکې غرونه

له ډېر تاو نه

ايشوي

سمندرونه

خوب کې وايم:

ښار مو ټول وينو

نيولی

لړ او بر نه بحر جوړ دی

ورېم ځي له پرندو وينو

لوی غونډان په کې

ورغړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خړو او ناولو وینو

زوو

له اوبو نه

ځمکه ټوله له بدبیو

ډکه شوې

د کشتۍ د خپتې

لاندې

د سېلاب خړې اوبه

وینه

او اور

چې:

ټول ستمېږي

فریاد کاندي

د باروتو امبارونه

یې

لامده شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



سرمايې خو د ښامار

په څېر

اوږده ژبه د ملا نه

تاوه کړې

راکاږي نوالې

ته

د مازيګر يوې

ناشتې ته

شخوند پرې نه وهي

تېروي په لويو

کومو

دا د زيان تورې

لښکرې

او د عصيان تورې

لښکرې

ددې عصر جزاميان

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د جنګ مړه

قربانیان

چې د هېڅ نه خبر

نه دي

بس همدومره یې له

له خولې وځي

تکراروي

دغه دوه ټکي

مور ته یې څه؟!

او په مور څه کی؟!

خوب کې وایم:

په شړك اوري

په مور اوري

په کاسو، کاسو

رااوري

د باروتو باران

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوري.

ای د بدشامت وطنه

ای د بد تقدیر مدفنه

یې کوره د ذوب آهنه

له زرتشت تر برهمنه

د بودا نه بیا تر ننه

د زمانو تورونالو

تاړ کړو

د شمند روز تورو ټوټو نه

د پېړیو پخوانۍ

د مخ خلتې موږ ته کنډلي

یخې، پخې تختې

هماغسې د دار بېخ ته پرتې دي

قیل، فانې او کوندې

ټول ورسره دي.

څوك چې یو ټکی په سر کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځوي.

ستاسو کالۍ ته

خوشالۍ ته

پرمخ تګ او ترقۍ ته

هسې تش قدم چې

کېږدي

زر يې غوځ کې

سر له تنه

قربان شوي دې بچي دي

پرې ځړېږي

پرې ځورېږي

پرې ژړېږي

د کلونو ارمانجن

د وختونو ماڼیجن

د ازله تر ابده

پرې پوه نه شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا د زيان تورې

لنبکرې

او د عصيان تورې

لنبکرې

دا د کلونو رنځوران

دا د جنګ مړه قربانيان

ورته د لرې ټقې کاندي

فقط دومره يې

له خولې وځي

تکراروي

دغه دوه ټکي

موږ ته يې څه؟!

او په موږ څه کی؟!

خوب کې وايم:

په شړك اوري

په موږ اوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کاسو، کاسو

رااوري

د باروتو باران

اوري.

تالنده، برېښنا

يې

لرزوي او

رژوي

د ځمکې غرونه

له ډېر تاو نه

ايشوي

سمندرونه

خوب کې وايم:

هلته لرې يو نا اشنا

شان سړی ناست دی

زوړ، بوډا شان

(c) ketabton.com: The Digital Library



سړی ناست دی

بې پروا شان سړی

ناست دی

اوږدې لمنې څنډو

یې

ور اخیستی

دموې سپرغۍ د

جنګ

ایلوې سپرغۍ د

جنګ.

کموې سپرغۍ

د جنګ

خولې ته یې قلف د

سربو پروت دی

اشارو او کنایو کې

دومره وایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه، دغه چې:

نن وينې

پاڅېدلي په شپېلۍ

د اسرافيل دي

وارثان د عزرايل دي

دوی په خټه د هابيل او

د قابيل دي

هر څوك وژني

بې بازخواسته

بې له جرمه

بې له فكره

خپل ځان وژني

تا وژني

او ما وژني.

نه پوهېږم؟

دا د كوم افت

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمبول دي

ځناور دي

د همنوعو

چې:

ورګډ د مږزکو مېږو

په لوی شپول دي

خوب کې وایم:

ای خالقه د وختونو

موږ دې څو واره

پانسۍ کړو

اخر ته زموږ خالق یې

موږ مخلوق د بې وسۍ یو

ښه فکر ورته وکړئ

ای د فکر خاوندانو

دا د زیان توري

لښکري

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د عصيان تورې

لښکرې

خورې روزې د

د انسانانو

لږ د رحم اوبه توی کړه

بې له دې هم موږ پسان

د قربانۍ يو

بې فرياده حلالېږو اوږدې

غاړې مو نيولې

د قصاب سپينو چړو ته

لارې باسو د دوزخ په

سرو تبيو

لنډوو دا سخت مزلونه

ناسپاسه او پردو ته

دا ولس مې د ناپوه سړو ګله ده

دې د جنګ پړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



قربانیانو

له خولې یوه چیغه راوځي

تکراروي

دغه دوه ټکي

مورې ته یې څه؟!

او په مورې څه کی؟!

خوب کې وایم:

په شړك اوري

په مورې اوري

په کاسو، کاسو

رااوري

د باروتو باران

اوري.

تالنده، بریښنا

یې

لرزوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



رژوي

د ځمکې غرونه

له ډېر تاو نه

ایشوي

سمندرونه

خوب کې وایم:

دلته پورته

هلته کښته

نامحسوسه

نامعلومه

څوک کسان دي

بهوي ویالې د وینو

دا حریمن سپېره زامنو

دا هورا څرمن یې مخ

باندې رانښکودې

غولوي د مقدسو ارواګانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جسدونه

زړه کې وايم:

دا د کومې زمانې غله

راټول شوي

چې جمدر په سروي

او په جمدر قلموي

هسك، رنګ

سرونه

زمانه يو خواته په

زغاست ده

په ګړندو ګامونو زاغلي

دوی په بله خوا

روان دي

چپه ځي او په شا ږدي

قدمونه

خوب کې وايم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو ناڅاپه مې زړه

تنګ شي

د خوبونو دې پليته

دنياګۍ کې

يو څوك راشي

تخنوي مې ويښېدو ته

د اوسون د جوړولو

هيله من يم

زما هم د ساده ګانو

ددې دور افغانانو

دا د جنګ مړو قربانيانو

دې د پېړيو دوزخيانو

په څېر:

همدا يوه چيغه

راوځي

تکراروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



دغه دوه ټکي

موږ ته یې څه؟!

او په موږ څه کی؟!

خوب کې وایم:

په شرك اوري

په موږ اوري

په کاسو، کاسو

رااوري

د باروتو باران

اوري.

تالنده، برېښنا

یې

لرزوي او

رژوي

د ځمکې غرونه

له ډېر تاو نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایشوي

سمندرونه

بیا وایم

پاس اسمان په

لوګو پټ دی

پوروړو لمر، سپوږمۍ

ده حلقه کړې

او کېکاږي

لاندې ځمکه سور تنور ده

سات په سات د اور

څادر په ځان

راکاږي

دا د لوی ځمکې قابض

چې اوږ انسان دی

په نرۍ نرۍ سپرغیو کې

ساکاږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



غر او سمې اور اخیستی

هر څه خوري

ځانته راکاږي

دا زموږ د توتکیو اوږ

ښارګوټی

دا زموږ د کروندګرو

شنه فصلونه

دا زموږ د چوپانانو د رمو

واه ورغومي

دا زموږ د کسبګرو په لاس جوړ

ټول اسبابونه

اخترونو کې چې زانګي مستې

پېغلې

یو د بل پسې راشکېږي د هغه

ټال تنابونه

دا هستي چې تباه کېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو د بل پسې لوټېږي

او نیستۍ ته سپارل کېږي

ولې ولې؟

څه لپاره؟

چا لپاره؟

بیا وایم چې:

هماغه بوډا راشي

اول سر ته شي

بیا پښو ته

غټه ګوته مې کړي کلکه

کوتې ښخه کړي

په ځمکه

راته وایي مسولیت دې د اوښ بار شو

زه بیا وایم:

ای سرېه

ښه سرېه

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ښایسته

ښکلی سړیه

ګل سړیه

زه ویښ نه یم

ویده یم

ځه بابه مې خوزوه

زه یو فرد ددې جامعې یم

واکدار نه یم

سالار نه یم

مالدار نه یم

بادار نه یم

مسولیت ته

غاړه نه ږدم

دوی د بار کاږه

لړګي دي

هیڅ وخت نه رسي منزل ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



تکفیروي مې په رښتیا

سپینو خبرو

دا د عمل ډګر ملاتې دي ازل ته

دا د زیان تورې

لښکرې

او د عصیان تورې

لښکرې

ورشه کښېنه دغه مړه

هېواد ولس ته

چې دلاسه یې

پڅه نه اوړي

په تېرو یې وخت

تېر که

وهي لافې تش په ژبه.

دا د خبرو اتلان

دا د جنګ پړه قربانیان

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تکراروي

دغه دوه ټکي

موړ ته يې څه؟!

او په موړ څه کی؟!

خوب کې وایم:

په شرك اوري

په موړ اوري

په کاسو، کاسو

رااوري

د باروتو باران

اوري.

تالنده، برېښنا

يې

لرزوي او

رژوي

د ځمکې غرونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ډېر تاو نه

ایشوي

سمندرونه

وروور د وروور غوښو ته

وړې

پلار د زوی وینو ته

تږې

هر خوا ظلم او وحشت دی

بربریت د انسان ګوره

ددې وخت دا ټیټ فطرته حیوان ګوره

خوب کې وایم:

دوی دلاسه

ددې ښار کوترې ټولې

مړې پرتې دي

فضا ټوله

هوا ټوله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځمکه صفا ټوله
د زاغانو د وزرو چتر
لاندې
ځګېرواى کاندي
یوه توره شانته
شپه ده
توده نه ده ښه
سړه ده
له موږ نه زموږه
اهورا ډېره خفه ده
تل تېروځو.
اُف
په اهریمن باندې د ژوند
لارې بیامومو
نو ځکه په موږ شامدام
تورتم دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



غرمه غم دی

سحر غم دی

شپه لاځه چې ورځ

هم غم دی

اختر غم دی

برات غم دی

هره عاشورا

بې له دې غم دی

زړه کې وایم:

کاشکې خلاص وای

د باروتو د لمبو نه

دې تورو

لوګو نه

د کارغانو د ټونګو نه

او پنجو نه

بیا وایم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا هسې يوه هيله او
ارزو ده
دا ممکن به تر هغه
ناجوړ وي
چې د زيان تورو
لښکرو
او د عصيان تورو
لښکرو
خوله کې دا شعار
موجود وي
او تکراروي
دغه دوه ټکي
موږ ته يې څه؟!
او په موږ څه کې؟!
خوب کې وايم:
په شرك اوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مورږ اوري

په کاسو، کاسو

رااوري

د باروتو باران

اوري.

تالنده، برېښنا

يې

لرزوي او

رژوي

د ځمکې غرونه

له ډېر تاو نه

ايشوي

سمندرونه

بيا وايم:

لاندې ځمکه سره تبې ده

پاس اسمان په وينو

(c) ketabton.com: The Digital Library



رنګ دی

دلته جنګ دی

هلته جنګ دی

همداسې جنګ دی چې

بیا جنګ دی

دا خواران خو سوله په سوال

غواړي

خلك وايي زموږ د ښار

مشر ملنګ دی

کندکچکول یې دی

په غاړه

لاس یې اوږد پاتې

شوی

خیر، خیرات هر چانه

غواړي

لاس یې تنګ دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



غواړي چې دا درې ورېي ماړه
کړي
دوی لپاره يې په جهان
ایښی قلنګ دی
لومړی مړېې نازوي
غوندي پرې ساتي
بل لېوانو ته يې رمې
حواله کړي
پیشوګان يې د غوښو
کوتوالیان دي
زما په اند چې:
د مشورې والا يې
امیان دي.
ددې ښار وړی انسان چې
خپل تقدیر بدلوای نه شي
د جګړې خوله په جګړه ماتوای نه شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د زور اورونه

خپل ځان خلاصوای نه شي

دا د زیان تورې

لښکرې

او د عصیان تورې

لښکرې

داد جنګ پړه قربانیان

همداسې ښه دي

تکراروي دې دا دوه

ټکي

موږ ته یې څه؟!

او په موږ څه کی؟!

خوب کې وایم:

په شړك اوري

په موږ اوري

په کاسو، کاسو

(c) ketabton.com: The Digital Library



رااوري

د باروتو باران

اوري.

تالنده، بريښنا

يې

لرزوي او

رژوي

د ځمکې غرونه

له ډېر تاو نه

ايشوي

سمندرونه

بيا وايم:

دې سرټنبه مغرور ته ګوره

ورته توت ښکاري د ټول

انسان سرونه

راجواړه ګټي د درست

(c) ketabton.com: The Digital Library



جهان ملکونه

ځمکه سېزي

اسمان سېزي

انسان سېزي

حیوان سېزي

دی د لرې ورته ګوري

ترېنه اخلي ښه

خوندونه

دلته څو په ګوتو شمېر لوی

دلالان یې ودرولي

هلته هم یې دغه حال دی

تل سودا کړي په بې عدلو

په ټيټ بها د وینو

د بېوزلو

او د عذلو

پرېکوي ژبې پر بېخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سرونو کې چېر وي

هغه سر چې شمله ور وي

غوځوي يې

رغړوي يې

کولوي يې

غورځوي يې

د جګړې د ملك کوځو ته

خو راوړ کوټه سپو ته

خوب کې وايم:

دا د زيان تورې

لښکرې

د عصيان تورې

لښکرې

ددې ښار پوچې

ککرې

شيشې وولي په کاڼو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا لټوي تورو کودنو کې

دا خپل خیرن

مخونه

هر څه انګري د لوی دربار

له ربه

دې کې پاڅېدم له خوبه

د یو بد اواز

له ضربه

اول کېناستم

بیا پرېوتم له کته

ټول وجود مې خوله

شوی و

له هیبته

زه به لیکم خپل

خوبونه

دوی دې کېني

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترقیامته

چې اوس به بابا

غوښه ډوډۍ راوړي

تکراروي دې دا دوه

ټکي

مور ته يې څه؟!

او په مور څه کی؟!

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډیوه ........................................................................ ۳۰۳
زمانه........................................................................ ۳۰۶
د وینو جامې ................................................................ ۳۰۸
بې باکه...................................................................... ۳۱۳
کوټې......................................................................... ۳۱۸
د کونړ سیند ته ............................................................. ۳۲۱
لاروېه ........................................................................ ۳۴۳
شپونکی....................................................................... ۳۴۵
د ژمي پسرلی ............................................................... ۳۴۷
لیونیه ........................................................................ ۳۴۹
د ژمي ماښام ................................................................ ۳۵۱
د پاخه عمر سړی............................................................ ۳۵۳
زړګیه......................................................................... ۳۵۵
سپېلنیه....................................................................... ۳۵۷
د غور نیکه بچیه ........................................................... ۳۵۹
**ایم ورګ** ................................................................. ۳۶۱
موټې اګټ.................................................................... ۳۶۲
د «ایم ورګ» په هکله ...................................................... ۳۶۴
د حسام د شعر ګلورینې پاڼې ............................................. ۳۶۶

–

(c) ketabton.com: The Digital Library


افغانستان ........................................................ ۳۶۹
نه مرېکی ممې! ................................................... ۳۷۲
که: ................................................................ ۳۷۴
مادا: ............................................................... ۳۷۶
اوړا ................................................................ ۳۷۸
نونګا کلیس مبارکیه ............................................ ۳۸۰
پرنګې .............................................................. ۳۸۲
نویك مارینس .................................................... ۳۸۴
شخرا .............................................................. ۳۸۶
مګا ................................................................. ۳۹۰
دشمن .............................................................. ۳۹۲
پاك علم ........................................................... ۳۹۷
کوا یړګا .......................................................... ۴۰۰
های! ............................................................... ۴۱۴
کي؟ ................................................................ ۴۱۶
بجوي جب ........................................................ ۴۱۷
شریم او وطن .................................................... ۴۲۱
جبس خذمتی ..................................................... ۴۲۳
احساس ............................................................ ۴۲۶
تروریزم ........................................................... ۴۲۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

آ ایرپم ........................................................ ۴۳۱
بیرغ........................................................................ ۴۳۴
چوچو ........................................................................ ۴۳۶
ڰي........................................................................... ۴۳۸
اکاډومیك..................................................................... ۴۴۰
خلڰني ........................................................................ ۴۴۲
جوان آنتي.................................................................... ۴۴۵
امه بجوي آيس .............................................................. ۴۴۷
وطنس مینی .................................................................. ۴۴۹
ای وطنم...................................................................... ۴۵۱
ترانا ........................................................................... ۴۵۳
شیمیس سنڰري ............................................................. ۴۵۵
نونڰابهار ...................................................................... ۴۵۷
پشه يي ملیتس حدي......................................................... ۴۵۹
شونیك بوسټر................................................................. ۴۶۱
شاعر آیم...................................................................... ۴۶۲
آ اوتیس پولهه ایم........................................................... ۴۶۴
داین........................................................................... ۴۶۶
پوین........................................................................... ۴۶۷
وطنس کاړهنکي............................................................... ۴۶۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

نامېدی مسلمان.................................. ٤٦٩
اما وطن.................................. ٤٧٠
نندي آنتي.................................. ٤٧١
پشه يي جب.................................. ٤٧٢
وطن.................................. ٤٧٣
ارمنم.................................. ٤٧٥
اړيم.................................. ٤٧٧
ورچېس لشکيی.................................. ٤٧٨
شوړی.................................. ٤٨٠
ايرمبو.................................. ٤٨٠
دوخلګه.................................. ٤٨١
درييکيم.................................. ٤٨١
حق.................................. ٤٨٢
لهمه ګارس شيلهه.................................. ٤٨٢
پشه يپ جبېس اوتي لغتي ګه اما ولسن تپ پلانونګی اشنا بېن.................. ٤٨٣
**يو خوب دوه انځوره**.................................. ٥١٢

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (انجنیر ذبیح الله حسام) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له لیکوال او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د لیکلو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library



الحاج محمد حسن حسام

# چاپ شوي اثار:

- زه کابل یم
- اورا پرنګی
- تارینا لوشه
- ایم ورک
- سپینې وینې
- سرخلاصي لیکونه
- یوه شپه دوه خوبونه
- د یوویشتمې پېړۍ انساني دلالان
- اشیل
- یو خوب دوه انځوره
- څار

د افغانستان ملي تحریک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۱۰۲

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**